# زه او ته چې ماشومان وو

ګل رحمن رحماني

کمپوزر: اجمل اکبری

# پېژندنه

ليکوال: ګل رحمن رحماني
نوم: زه اوته چې ماشومان وو
کمپوزر: اجمل اکبری

# نيوليک

ګڼه سرليک

9 يوه غوټۍ چې پرغوړېدو ده
13 ډالــــــــــۍ
14 چې په ژوند مې ميلمنې دي د هجران شپې
15 د ژوند په کږو لاروکې که مل يم د سندرو
16 يا به په تورو تورو شپو کې شين آسمان وکرو
17 د سحر ټنډه کې سل غشي سحر ژاړي ژاړي
18 د ښوونځي لارې
19 د وصال شپه ده تبريدونکي شيبې ورو اړوه
20 سندريز وختونه
21 درد د پرهرونو مې ترښکلو طبيبانو وړه

22 ویښ شه ویښ شه اوده لمره ستوري ژاړي

23 له شپو به اخلې مخه ښه لکه سبا به راځي

24 لکه کبان چې د اوبو په تل کې لوبې کوي

25 د لمر په سپېنو پلوشو کې اوسو

26 کله ناکله چې هغه راته په لار کې تم شي

27 چې له مودو مودو راپاتې دي په پښو کې اغزي

28 ټول ښکلا ښکلا شوی د نظرتر غرونو واوښتې

29 چې نه مو ناز اخلي او نه مو هیڅا غم خوړلی

30 ژوند د بر بنډو پیغلو ښار دی څه ښکلا نلري

31 معیوبه پېغله

34 لیوني یو چې له داره ژوندون غواړو

35 څه شرین خوب وو له سندرومې غزل ټولول

36 ړنګ او بنګ تصویر یم د هنداری شاته پټ یمه

37 چې په تندي ورته دعا لیکمه

38 څوکه د پامیر یي هریو غر درته سلام کوي

39 چې په لیمو کې ګرځوو د سترو شپو خوبونه

40 درنو ستورو د باغ رنګین شبنم یی

41 ... یو شاعر ملګري ته

42 کلونه کیږي چې دورک ستوري له غمه ژاړي

43 مابه ګوری مابه وینی په خوبو کې

44 لکه چې پرخه له ګلونو سره لوبې کوي

45 دا چې مې زړه کې د ښکلا مرغۍ ټوپونه وهي

46 ښکاري چې ځان رانه پردی شو څه ویلای نه شم
47 زه چې له خوبه هر سهار ویښیږم
48 دا چې مې څنګ کې ګردونه له دښتو وریږدي
49 نه یم شبنم چې له پستو پستو ګلونو لویږم
50 ژاړمه سیندونو ته
54 له ډیوو سره همدم درپسې ژاړي
55 پاسته بانه دی چې ترې پورې وزي
56 دا چې مې ساندې له پر هره خېژي
57 خاوری ګردونه ستا په پله پریو تل
58 ته چې راتلی زه لکه ګل دی پسرلي غوړیدم
59 زاهده مانه که جانان یاغي شو
60 چې یو آرمان یې بل آرمان ته په ښېرو سترې وي
61 مخ دی مینځلی وو جانانه د سپوږمۍ په اوبو
62 یو څه له خپل ښایسته څه له مانه شرمیده
63 سبا
64 چې د روح پانې مې د ژوند په مات وزر تېریږي
65 د ژوند په نوم راته یو چا د زهرو جام راوړی
66 لاروی
66 تا په خندا ما په سلګو کې ووې
67 ((وایي چې پښه خپله پښه پېژني))
68 یو سپین پتنګ یمه لمبې مې سوزي
69 مئین

70 تا ویل پردي یو ما ویل خپل یو دواړه
71 د څو وژلو آرمانونو په څادر لمنځونه
72 ښکلی یار مې د ګړنګ تږی غرڅه دی
73 مونږه د هیلو له کاروانه نیمه خوا پاتې یو
74 یوه شیبه چې زه له تاسره وم
75 لمبه لمبه شومه ډیوې راسره مه ژړوئ
76 توبې تر پښو لاندې کومه ننواته ورځم
77 نوی فریاد نوی پرهر یم څوک مې نه پیژني
78 پروا نکړې که زما له څنګه لاړې
79 پېغلې دا خو زه منم چې پښتنه یې
80 له ژړا ډکه او غمګینه دعا
81 د بدیا مساپر
82 سندرې ژاړی له لنډیو نه مې وینې څاڅي
82 دزردشت د اور لمبی یو ، د مرګي سندرې وایو
84 راځه چې کښېنو د چینار سیوري ته
85 مه وایه چې چېرته ځو او چاته رسیدلي یو
86 چې ورسپارې د رڼا تابوت ماښام ته
87 تاچې ړ سندرو جامې واغوستی
88 ماتې څانګې
89 کلونه کیږي چې په تاپسې ستومانه ګرځم
90 شنه کیږي چې بې وخته سره ګلونه پدې لارو
91 تعبیر

92 .... تکړه زرګر عبدالحليم ماماته
94 خاموشه څړيکه يم پر هر کې اوسم
95 داچې غرور يې تر اسمان ورسيد
96 لکه څوک چې پېغلې هيلی ، د ښکلا په غيشو ولي
97 نه خو په شار نه په بنګله کې اوسم
98 مخه ښه
99 ته چې تلې زه لکه شمه سوزيدلم
100 ترانه که له سندرو نه رنګ اخلي
101 لکه چې تللی زمان بيرته چاته بيا نه راځي
102 په غيشو د اجل تقدير ويشتلی يو شاعر
103 د اروا ښاد مجيد تبسم په يا د
104 زه او ته چې ماشوما وو
112 خدايه په وطن مې د ګلو نو باران راولی
113 نه مې آشنا دی نه مې هم چېر ليدلی راځي
114 په قدم قدم کې شين شه ما در واخله
115 کله قاتل شي کله زړه راکوي
116 له ژونده تښتي په خندا پړي د دار نيسي
117 ... شاعر ملګری عالم غزيزي ته د يوه ليک په ترڅ کې
119 وخت دی پسرلی دی سره ګلونه وريدلي دي
120 څومره ترخه ترخه جامونه څښمه
121 مينه شوم سندره شوم سازونو کې مې ونغاړه
122 څپې د څړيکو راشي د مرهم په لورې ځي

چې د آدم له غیږې اخلي د رباب جنازه 123

مونږ په لمبو کې له لمبو ووتو 124

ځانګې اودې شولې چنار اوده دی 125

نه خو وړانګه د سبا نه مازدیګریم 126

نوم 127

لکه نظر چې څوک د ښکلو په تصویر وتړي 127

بیا به پسرلی وي په منګلو به للمې شکوو 128

چې هدیرې مې په ژوندیو زورورې شولې 129

شپې مې لیونۍ شوې که خوبونو کې مې ته اوسې 130

زده کوم چې له ځنګ د ځنګ ژبه 131

لکه وینه په رګونو کې مې ګرځې 132

چې د ماښام په لاس دی ورکړ دډیوو امامت 133

د ورځې سل ځله وعدی ماتوي 134

خوب د سترو شپو یمه تعبیر مې کړه 135

څپې 136

لیونی درد مې په پرهار پریږده 137

خوب 138

شمې مې د اوښکو په راز پوه شولې 139

لکه موسم د پسرلي چې وي په کال کې نغښتی 140

وطنه هره یوه چینه دی څپ څپانده غواړم 141

دمجبوریت مسا پر 142

....د علامه رشاد د مړینی په یا د 143

145 چې هم په پانه هم په ګل هم په غوټۍ وریده
146 لکه ګودر لره چې پېغلې په مستیو راځي
147 دا چا ویل چې ترې بدل اخلمه
148 په وراباندې د ښکلو لوی لښکر درسره راوړه
149 یو درد و د بلا غوندې پر هار کې غلې وو
150 پښتون یم خو مغل د زمانې مې نه پرېږدي
150 چیغی
151 زما زړه د شینکي توت هغه نیالګی دی
152 چې ډنډ دوینو یې تر پولو د مرهم واوښتو
153 چې تلم رښا وه چې راتلم ماښام وو
154 کاغذي ګلونه
157 لیونیان یو په سندور پسې ګرځو

## یوه غوټۍ چې پرغوړېدو ده

شعر موزون کلام دی ، د زړه غږ او په تول او سربرابره وینا ده ، شعر الهامي خبرې دي، د شعور غږ دی ، د ضمیر فریاد دی ، رمز دی ، راز دی، تر ستوریو ورهاخوا او د زړونو په تلت کې د ... پرتو احساساتو زمزمه ده ، شعر احساس دی ، شعور دی ، د حساس زړه فریاد دی او شعر دومره ستاینې لري چې په یوه لیکنه کې یې راوړل ناشوني دي ، شعر چې هر څه دی او هر تعریفت ورته مراوړو یو واقعیت دادی چې عادیت خبرې نه دي او نه د عادي زړه او شعور .زېږنده ده

شعر لکه شات داسې دي ، شات فورمول نه لري ، ترکیب یې تر اوسه لوي کیمادان هم نشي ښودلې ځکه چې د شاتو مچۍ د خپل زړه مني او د خپل زړه په مارداده له رنګارنګ زرګونو ګلونو څخه شیره رالوړي او شات جوړوي. همدغسې شاعر هم د خپل زړه واکدار دی، زړه یې چې د ښاپېریانو کوم چاپیریال ته بوتلو بیولې به یې وي ، هلته چې هر څه پرې وینې او درک کوي یې همامغو ته مانا ورکړي ، د الفاظو جامې وروا غوندي او د شعر یوه مهینه او رنګینه .غنچه ترې جوړه کړي

شعر واقعاً الهامي غوندې خبرې دي ، دا واقعا پر ژبه د پوهیدو او د ژبې داد بې تلازماتو پر باریکیو برلاسۍ ته هیڅ اړتیا نه لري بس دا دیوه ځانګړي کیفیت ترجماني او انځور ګري ده چې خدای دغه کیفیت هر چاته نه دی ورلورولی، خدای د وکړي ژبپوهان رانه خفه او حوابدي نه شي . زه خو وایم چې د ژبپوه او شامعر او یا ادیب ترمنیځ توپیر لکه د آهنګر او زرګر هومره دی .شاعر زرګر دی له ښکلا او نقاست سره یې کار دی نزاکت او حسن انځور ګري کوي

هوکې ! خو شعر چې څومره له نزاکت او ښکلا څخه ډک دی ، هومره پر دې ګواه دی چې دا د هر . سړي کار نه دی

هر موزون کلام ، هره پر قافیه برابره خبره یا وینا شعر نه دی ، شعر د الفاظو تر مینځ یو ځانګړی .تړون دی چې یوازې یو شاعر زړه او یو شاعر مغز دغه کمال درلودلای شي او بس

زما په مخکې نن د دغسې یوه تنکي شاعر ګلورینه شعري ټولګه پرته ده چې د معاصر شعر ښکلې نمونې لري ګل رحمن ((رحماني )) یادوم چې د خپل ماشومتوب په یاد یې ((زه او ته چې . ماشومان وو )) ګلالی نظم لیکلې او دا شعري ټولګه یې هم په دې نامه ده

دا د شاعر دوهمه شعري ټولګه ده چې نام خدا په تانده ځوانۍ کې یې د شعر په ګلبڼ کې ښایسته .مزل وهلی دی څو بیلګې یې سره لولو

لــه شپوبه اخــلي مخه ښــه لکه سبا بــه راځـــــي
خوب مــــې لیدلې دی ملګرو خامخا به راځـــــي

د اوښکو شمې به پرې شيندو په سلګو سلګو کې
لکه سپوږمــۍ د تورو وريځو په ګډا به راځــــې
د ښـــکلا خدای ته به مو ټيټې وې په تسليم سرونه
د خيال په طــور کې به روان وو يوه رڼا به راځـــې
!سپينه کــــوتره يادوم د سپينې سولې شيــــخه
هـــــره شيبه وايم که ولاړله نو بيا بـــه راځـــــې
: او يا داچې
مايې چې سترګو کې د مينې کتابونه لوستل
نن يې نظر له زمانې سره همدم و اوښتو
وخته له شاورپسې ځاځکي ځاځکي وينې ګوره
د درد کاروان وو له کابله په تورخم واوښتو
: او يا دغه بيلګه
د ژوند کيسه شوله پردۍ د ژوند پيغام بدل دی
زهر به وڅښمه پروانکړې خو جام بدل دی
زړه رانه باسي په خندا کې مينه مينه وايي
رښتيا چې نن د شوخو سترګو انتقام بدل دی
کوترو ډيرې دورې وکړلې خو کوزې نه شوې
ښکاري زمونږ د برجورې کلام بدل دی
د تنکي او زلمي شاعر ګل رحمان رحماني په دې شعري غونډ کې دغسې ډېرې په زړه پورې او د ښه شعر په تول پوره بيلګې شته ، که څوک دده د عمر په پرتله دده د شعر ښکلا او جمال ته .وګوري نو په زغرده يې د ښې راتلونکي وړاند وينه کولای شي
په پښتنو کې پخوا يوازې ننګرهار د شعر او شاعرۍ يو پالنځای و ، د ميرويس نيکه او احمد شاه بابا کندهار ورپسې درواخله، خو د سره تاړاک په وړاندې چې زموږ پتيال ولس د جهاد او شهادت لاره غوره کړه ، پر دين او وطن د ننګ او جنګ ډګرونه تاوده شول ، پکتيا او وردګ هم د شعر او ادب په سمسور ګلبڼ بدل شول د پکتيا له تټيونه يو پتمن او پښتو ډک زلمې راووت او بيا د هيواد د شعر او په تيره د غزل د ((کاروان)) سالار شو په دې ((کاروان)) پسې داسې . ژبې راووتل چې په ګانده کې به دا هريو د هيواد د پښتو ادب او شعر د ګلبڼ ماليا ران وي
همدغسې د وردګو خخه هم د شعر او ادب يوه مسته څپه راپورته شوه د منې ګل مشاعرې ته يې تاريخي ښه ورکړه او د شعر او ادب داسې تنکۍ غوټۍ راوټوکيدلې چې په راوروسته وختو .کې به يې که خدای کول ټول هيواد په وږمو خوږ بويه شي

ګل رحمان ((رحماني ) ) په دې ډله کې یو وتلی او ځلیدلی زلمی دی چې دا دې له تاسو سره د
.شعر په خوږه ژبه د خپل ماشومتوب کیسې کوي او د خپل زړه رازونه تاسې ته سپړي
په ځوانۍ او قلم یې برکت شه نور دا تاسو او دا دتنکي شاعر دغه ګلالۍ ټولګه (( زه او ته چې
((ماشومان وو
په خدای (ج) سپارلی
((محمد زبیر ((شفیقي
میدان ښار د راډیو تلویزون دفتر
د زمري ۳۰ مه ۱۳۸۵

رحماني د خپلې شاعرۍ د انځورونو په هنداره کې
شعر څه دی ؟
ښکلی او کره شعر کومې ځانګړنې لري؟
څه ډول شعر ته ښه شعر ویلای شو ؟
شعر دهنر لپاره که شعر د ژوند له پاره ؟
........ او
ده هغه پوښتنې دي چې زه خو ډیر وروسه مخ شوی یم او ډیرې کورنۍ او بهرنۍ لیکنې مې هم د
هرې هغې په اړه لوستلې دي خو ددغو پوښتنو له پاره ټول ځوابونه که ګډ نظرونه رانغاړي نو د
نظر د اختلاف رنګ هم ضرور په کې له ورایه بریښي او همدا لامل دی چې تر اوسه د شعر له پاره
داسې یو تعریف چې د ټولوله پاره دمنلو وړ وي نه لرو ،
زه چې همدا شیبه د ځوان او منلې شاعر ګل رحمن ((رحماني ) ) په ګلورینو ګوتو دجوړ شوي
شعر د رنګینو ګلکځونو په ګلورینو کوځو کې د ګلورینو وږمو په ګلورین کیف مدهوش یم ،
غواړم دده د شعر د ګلکځونو د رنګینو ګلونو پر رنګینو ډنډرونو د خپل زړه د مین بلبل په
خوږو نغمو کې دده د شعر له ګلونو سره د زړه خواله وکړم زه دخپل زړه سندرمار بلبل دهغو
پوښتنو د ځوابونو په کړو وړو سمڅو او کږلیچونو کې نه ستړي کوم بلکې غواړم دده دشعر د
.هوسیو دنافو په سپړلو ددغه بلبل زړه او دماغ ونازوم
اوس مهال ډیری خلک د شعر کمال او جمال د نوو ترکیبونو ، اسطورو ، انځورونو ،
منظرکشیو او لوړو مفاهیمو په وریښمینو پردو کې لټوي چې غواړم درانه لوستونکي له
همدغو کړکیو څخه د ښاغلي ((رحماني ) ) د شعر د ګلکځونو ننداری ته کیښنوم
زما په اند شعري منظر کشي ، انځورونه او اسطورې ان ترکیبونو جوړول او کارول پوره مهارت
، ځیرنه او پاملرنه غواړي او څومره چې زه ځیر شوی یم نو د انځورونو ، اسطورو او ترکیبونو په
. جوړولو کې د نورو تلازماتو تر څنګ منطقي تړاو یو ډېر مهم او بنسټیز اصل دی

شاعر که ذهني انځورونه کادوي یا عیني انځورونه خو په دواړو حالتونو کې دې باید د یو لوستونکي په ذهن کې د تصویر پر جوړولو وشي کولای دهغه قناعت حاصل کړي او همدارنګه د نقد په محکمه کې د برات اخیستلو لارې په ځان ونه تړي.

د ښاغلي ((رحماني)) صیب دا شعري جونګ ((زه او ته ماشومان وو)) خو مادا سې وموند لکه د انځورونو یو نندارتون چې ښکلي او زړه راښکونکي انځورونه یې په ښه ډېزاین پر دیوالونو ځړېدلي وي او سړی یې نندارې ته هڅېږي.

که یې ازاد نظمونه ولولو نو ویلای شو چې ښه منظرکشي په کې شوېده او غزلونو کې خو یې لا په بندونو کې بېل بېل انځورونه کښلي دي چې په اصطلاح کې یې که د معاصرې شاعرۍ ټولو غوښتنو ته ځواب نه وي ویلای نو لږ تر لږه خو یې په ځولۍ کې ورته د خپلې برخې ملغلرو په اچولو یو څه دهغې حق ادا کړیدی او لا خو ((رحماني)) تنکی ځوان دی که ژوند وروسره یاري وکړي نو انشاالله د معاصرې شاعرۍ لمن به له داسې ملغلرو ډکه کړي چې خلک یې له لیری لیری وا ټنونو ننداری ته ورځي.

ما غوښتل چې د ښاغلي ((رحماني)) صیب د ذهني او عیني انځورونو او ښکلو ترکیبونو څو بیلګې هم راوړږ او د درنو لوستوکو د قناعت په خاطر هر یو توضیح او تشریح کړم خو بیا مې فکر وکړ چې سرېبه لوستونکي به وایي چې موږ دې خدای مکړه ړانده ګڼلي یو که څنګه؟ ځکه خو مې دا قضاوت د ((رحماني)) صیب د شعرونو مینه والو لوستونکو ته پرېښود او بل دلیل یې دا هم و چې زماله لیکنې به یو بل کتاب جوړ شوی و.

په هر صورت زه هم دانه وایم چې د ښاغلي ((رحماني)) صیب ټول کښنل شوی انځورونه کره، معیاري او منطقي دي کیدای شي د یرې نیمګړتیاوې پکې تر سترګو شي خو په ټولیز ډول سړی پری حساب کولای شي او په لوستلو یې دده د راتلونکي لاښیرازې شاعرۍ هیلې څرګندولای شي.

. پر خیال او فکر یې دالهام د ملکوتي پرښتو د پېرزونو رنګین وزرونه تل خواره او سه په شاعرانه مینه

((عبدالغني ((هاشمي

د ننګرهار ټولیز مرکز میډیوتیک انګړ

جلال اباد

د لړم یوویشتمه ۱۳۸۵

## ډالــــــۍ

هغوی تــه چې مینـــــه کـــــوي
او خپلی مور ته چې مینه یې راښودلې

تازه تازه وږمې دی نه راځي د چا له فصل
د مړاوو شمو حاصل اخلو د رڼا له فصل
مونږه د سروشندو په کلي کې آرام ونه کړ
سترې سلګۍ به ټولوو اوس د موسکا له فصل
آشنا د سترګو د کاروان او ښان مهار تیروه
چې نور د صبر غنم ونه خوری زما له فصل
د ترمو اوښکو یرغمل یم د وصال په تمه
ماته د مینې غوټۍ راوړه د ښکلا له فصل
د خپلو پاکو آرمانونو روان سیند یمه زه
څه غر خو نیم چې به لمر نیسمه ستا له فصل
چېرته په غشو چا د ژوند رنګین مارغه ویشتلی
که د سندرو قافلې ځي د سبا له فصل
د(( رحماني )) په هیلو تېر شو د زخمونو توپان
راشه څو اوښکې خو یې واخله د ژړا له فصل
۱۳۸۳/۲/۲۷

چې په ژوند مې میلمنې دي د هجران شپې
د یقین په اوړو وړمه د ګمان شپې
چې دې مړاوو کشمالو فصل تازه شي
خدای دې راولي په کلي د باران شپې
د سبا غوټۍ په لار کې ورته شنې شوې
د آرمان په لارویون کړي د آرمان شپې
د ازل غشي وریږي له آسمانه
له ماشومې هوسۍ تښتي دبیابان شپې
رانه وړی د بیلتون خړو سیلیو
چېرته چېرته به تېریږي د جانان شپې
غبرګې شمعې دې له سترګو نه لوګی شه
د ځوانۍ په خوب لاهو کړې د هر ځوان شپې
د سپوږمۍ پېغلې سفید وته خولګۍ ورکړه
درنه لاړلې د ستورو د کاروان شپې
رحماني ) ) درنه سکون د توبو غواړي))
ستا په مخ کې یې اودې دي د ایمان شپې
۱۳۸۲/۲/۸

د ژوند په کږو لاروکې که مل يم د سندرو
خو دا به هم منې چې يرغمل يم د سندرو
د سپين سبا په خبر به خامخا لاس ته راځي
روان دی تر منزله په هر پل يم د سندرو
مرغانو په وزرو کې مهاجرې نغمې راوړې
سپرلی مې سکه وروړ شو شين ځنګل يم د سندرو
دا تا چې له سرو سترګو ليوني شراب راکړي
هم سوز يم هم ګدازيم هم محل يم د سندرو
د درد جامو کې پټ يمه سلګو سره مې شپې دي
احساس بدې راوينښ کړم شوخ تکل يم د سندرو
۱۳۸۲/۲/۲۹

یا به په تورو تورو شپو کې شین آسمان وکړو
یا به د ژوند مړاوو ډیووته پتنګان وکړو
بې پسرلیه به رسیږي مونږه ډېر ژړلي
د اوښکو فصل که په خپل خیري ګریوان وکړو
له نغمو ډک مرغان که نه راځي هیڅ نه دې راځي
دخیال په ونو کې به سپین د نور مرغان وکړو
په هر ګودر کې به تخمونه د مستۍ وشنو
په هر ګودر کې به د یزدان وکړو
زمونږه کډې ترې باریږي اوس نو وایه کلیه
ستا په کوڅو کې لیونیان که ملنګان وکړو
د عطرو بوي که په ترخو کې د کوم جام ګډوي
دمیخانې په دروازه کې به ګلان وکړو
چې بې شهیده هدیره مې په وطن کې نشته
بیا نو راځئ چې شفق د سره الوان وکړو
رحماني )) خبر که مې یتیم آهونه کور نلري))
خو د رقیب په کروندو کې به توپان وکړو
۱۳۸۲/۸/۱۰

د سحر ټنډه کې سل غشي سحر ژاړي ژاړي
بوره سپوږمۍ د ستورو وير کوي لمر ژاړي ژاړي
تامې په سراسر بدن داسې مستي شيندلې
زما په وينو کې خښ شوی خنجر ژاړي ژاړي
چې يادی نکړی دمنګو او جينکو خبرې
ژيړ مازديګر مې په سلګو دی ګودر ژاړي ژاړي
دهربلبل په ژبه نشته د خوښۍ سندرې
دسپرلي لارې دي بدلې اختر ژاړي ژاړي
چې هر يو درد مې تر لمر سپين ديه نو خود جانانه
د بلو شمعو په آرمان کې پرهر ژاړي ژاړي
سترګې د تادي له حجازه خوځيدلی کاروان
زما د زړه د ((رستم)) ستړی لښکر ژاړي ژاړي
دا خو منم چې د ژوند شور به مې په مرګ ماتوی
مګر کفن کې به مې سوی ځيګر ژاړي ژاړي
ساقي غره نشې هنر ستا دلاسونو نه دی
د((رحماني)) له وچو شنډو ساغر ژاړي ژاړي
۱۳۸۲/۷/۹

د ښوونځي لارې
باده پوهیږم
چې زماله تلو به وروسته وروسته
ته د کوم شوخ
ماشوم په خیر
په دې خاورینو لارو
زما د پلونو انځورونه
په تېرو منګلو ونړوي
خو پام کوه
چې په دې لارومې
د ښکلي ژوند
خواږه یادونه
ډېر اوده دي
په هره تیږه مې
د پښو د ګوتو څوکې لګیدلي
ترینه وینې تللي
په هریوه کاڼي مې
همدې وینو
د ژوند رنګین داستان لیکلی
په خدای چې هیڅ د هېریدلو نه دي
۹۱۳۸۳/۱۳

د وصال شپه ده تېرېدونکې شيبې ورو اړوه
مطربه ياره ! په رباب کې نغمې ورو اړوه
د زړه په تل کې مې زخمي زخمي رڼا اوده ده
له تورو شپو مې ځارېدونکې ډيوې ورو اړوه
زمونږ په ژوند باندې مين شيطان سپين سترګی شولو
زاهده نور نو په محراب کې تسبې ورو اړوه
راباندې تېر دی خونړی توپان وه سترې کوچۍ
د زړه په دښته کې مې پلنې خيمې ورو اړوه
شپونکيه خدای که خو راستون کړې مروريکه زار
د درد په ژبه کې زخمي ترانې ورو اړوه
ماشوم جانانه هسې نه چې راته څيرې يې کړې
زما د خيال د کتاب سپينې صفحې ورو اړوه
خدای به مې زړه کې ښکلي ښکلي ګودرونه شنه کړي
په وچه ژبه مې د زهرو پيالۍ ورو اړوه
وينې ((رحماني)) دی له اودې موسکا غزل جوړوي
سپوږمۍ له مخه دې بدرنګه تيارې ورو اړوه
۱۳۸۲/۸/۲

سندريز وختونه

زرده چې راشي سندريز وختونه
ما په شپيلۍ کې
د سندرو په ځای
تل ځوانيمرګې ژړا ګانې کړي
ژونده
سلګۍ زما ترخې دي که نه ؟
ما ستا په نوم
د يوې خوږې مينې
زهرو تريخ جامونه څښلي
ژونده لږ صبر
لا ناهيلى نه يم
زړګی مې غواړي
چې له خپلو چيغو
ستا په ورغوي کې
راشنه کړم
سندريز وختونه
۱۳۸۲/۷/۸

درد د پرهرونو مې ترښکلو طبيبانو وړه
شپه د پرديسۍ ده شمعې ناز د پتنګانو وړه
ډېرې دې ښيراوې له ويشتلو زړونو وړيدې
يوه نيمه دعا خو هم زمونږه ملنګانو وړه
بيا دې پسرليه د ښکلا په خم کې رنګ کړلم
بار د احسانونو د چمن په سرو ګلانو وړه
زه په خړو غروکې د جان له کلي پاتې شوم
مړی د ژوندون مې په زخمي زخمي اوښانو وړه
خورمه تندیکونه ترينه لوږمه ماتېږمه
غرونه غرونه خوب مې په لنډو لنډو زلفانو وړه
۱۳۸۲/۱۱/۸

وينس شه وينس شه اوده لمره ستوري ژاړي
له بيګانه تر سحره ستوري ژاړي
ملامت نه يم چې زه درپسې ژاړم
ستا په مينه کې اکثره ستوري ژاړي
سپنې اوښکې يې شين خال د پرښتو وړي
راشه ورکه پېغمبره ستوري ژاړي
د رڼا کاروان مې کلي ته راستون شو
له سبانه بې خبره ستوري ژاړي
د وژلى سپوږمۍ وير يې لاهېر نه دى
له کابله تر خيبره ستوري ژاړي
د غزل مسرۍ يې شي د وړانګو څانګې
د شاعر له هر نظره ستوري ژاړي
رحماني )) د درد کيسۍ به راته وايې))
نن دى بياله سره پر هره ستوري ژاړي
۱۳۸۲/۸/۱

له شپو به اخلې مخه ښه لکه سبا به راځي
خوب مې لیدلی دی ملګرو خامخا به راځي
ستر به نکړي په پردو باندې به اور پورې وي
خوله به ترې اخلم له ګیلو ډکه تنها به راځي
د اوښکو شمعې به پرې شیندو په سلګو سلګو کې
لکه سپوږمۍ د تورو وریځو په ګډا به راځي
دا به څه وایي لاسونه به ترې زما چاپېر وي
له خوشحالۍ به په سلګو ومه ژړا به راځي
نغمې به پرش وي عجیبه ده څوک به هیڅ نه وایي
دواړه به ناست یو چو په خوله غلی موسکا به راځي
د ښکلا خدای ته به مو ټیټ په تسلیم سرونه
د خیال په نور کې به روان یو یوه رڼا به راځي
ته به غوړېږې د غوټۍ په څیر زما غېږه کې
زه به د پاڼې په څیر ریږدمه حیا به راځي
سپنه کوتره یادوم د سپېڼې سولې شیخه
هره شیبه وایم که لاړه له خوبیا به راځي
۱۳۸۱/۸/۷

لکه کبان چې د اوبو په تل کې لوبې کوي
زړه مې همداسې د سلګو په تل کې لوبې کوي
دا دی تیاره شوه خورا نغللو د خیال ماشوم مې
خدایه ترڅو به د لمبو په تل کې لوبې کوي
ستوري لاهو دي د ماښام په خونړي سیلاب کې
لمر مو د تورو تورو شپو په تل کې لوبې کوي
جانانه خپل ژوند دی کوه زما ژوند څه کوی
د خپلو تاندو پر هرو په تل کې لوبې کوي
کافر غمونه دي تور غشي دي ځیګر څېروي
ښکلي خو ندي چې د زړو په تل کې لوبې کوي
ورک ((رحماني)) دی د دیدن په هیله مه لټوه
د سترو سترو آرمانو په تل کې لوبې کوي
۱۳۸۲/۳/۱۰

د لمر په سپېنو پلوشوکې اوسو
ستوري خونه يو چې په شپوکې اوسو
په خاورو دورمو سر په کاڼو وهو
دشنو سيندونو په څپو کې اوسو
لاسو ته خپله زولنۍ اچوو
جيلوانه خپله زولنو کې اوسو
ښکلو کرلي وو د اور لمبو ته
اوس د اغزيو کروندوکې اوسو
د ښکلا سپېن کلي کې ژوند تېروو
د ښاپېريو په کوڅوکې اوسو
مونږ د زګيروو قافلې هيرې کړلې
رحماني ) ) مستو ترانوکې اوسو ) )
۱۳۸۳/۳/۲۲

کله ناکله چې هغه راته په لار کې تم شي
لکه نغمه چې د رباب په ښکلي تار کې تم شي
زمونږه ښکلي پرې د ستورو سپین باران وروي
دعشق منصور دې څو شیبې د زلفو دار کې تم شي
ستا سپینه غاړه او زما دا ښکلې ښکلې اوښکې
دا ملغلرې خو په خدای که ستا په هار کې تم شي
د کلي شیخ چې کله کله زما غزل وګوري
د تقوا ستوري یې دعقل په مدار کې تم شي
ټول به په زړه کې میلمانه کړو ټول به ونازوو
کاروان د دوي که نن زمونږ په سوی ښار کې تم شي
مونږ چې سپوږمۍ غواړو په نیمو شپو سوما یادوو
لمر به مو څنګه په شنو پاڼو دچنار کې تم شي
رحماني ) ) لاړ شي لیونی شي ټول لمبه لمبه شي))
مړاوې مستي یې ستا د سترګو په خمار کې تم شي
۱۳۸۳/۳/۲۱

چې له مودو مودو راپاتې دي په پښو کې اغزي
مونږه شیندلي وو د ښکلو په لیمو کې اغزي
پردو ته وغوړوو زړونه چې قدم پرې کیږدي
خپلو ته پرش کړو لکه ستنی په کوڅو کې اغزي
دزړګي څانګې مې چې نه نیسي رنګین ګلونه
خدایه ما څښلي د ګودر خړو اوبو کې اغزي
زما همزولي سره اورونه خو ګل شوي نه دي
حیران یم ولې نه خلاصیږي په لمبو کې اغزي
ماشوم زخمونه مې رالوي شول په چړو کې ځوان شول
جانانه پټ پټ راته مه ږده په تیارو کې اغزي
د غنم لوکې هاستو مانه ښکلې لاس رانه کړ
ښکاري چې بیا یي ننستلی دي لاسو کې اغزي
تر څو به ګورمه هندارو کې خپل مات تندي ته
تر څو به وړمه خپل منزل ته په پښو کې اغزې
ما ((رحماني)) بیګاه یو داسې ښکلې خوب لیدلو
چې در روان وم ماتومه په مزلو کې اغزي
۱۳۸۳/٤/۲۰

ټول ښکلا ښکلا شوی د نظر تر غرونو واوښتې
لاړې آشنا لاړې لکه لمر تر غرونو واوښتې
جار دې شم جانانه لدې ښکلو غرڅنو سترګو
نه پوهيږم څنګه مرور تر غرونو واوښتې
زړه کې مې روانی وي سلګۍ ستا د قدم په خير
پاس په خړکندو چې مازديګر تر غرونو واوښتې
ما ويل چې زه بدې په غلا وروستۍ ديدن وکړم
وه بې وفا ياره څومره زرتر غرونو واوښتې
۱۳۸۱/۸/۷

چې نه مو ناز اخلي او نه مو هیچا غم خوړلی
مونږ ګناګارو ستاله فصل نه غنم خوړلی
لمر چې نن دا سې ستا د مخ په څیر ځلانده ښکاري
زما له سترګو یې د اوښکو سپین شبنم خوړلی
پاس په هوا کې د سپین باز ښکه باد رپوي
لاندې دریاب کې لیونی نهنګ هم بم خوړلی
خنګه راواړوو د لمر وړانګې له تورو غرونو
وږی ماښام رانه د ژوند بل کړی شم خوړلی
خدای که خو ګنډی ګلونه د ښکلا په لمن
د زلفو تار دی نور زما د زړګي سپم خوړلی
اوس مې په کاڼو باندې وله که دی زور وي آشنا
زما تندی هم د مین ملنګ یو دم خوړلی
رحماني)) مه ورپسې ګرځه پیدا کیږي نه اوس))
د کلي لارو د جانان هر یو قدم خوړلی
۱۳۸۳/۷/۸

ژوند د بر بندو پیغلو ښار دی څه ښکلا نلري
هر څه به ولري منمه خو حیا نلري
له چانه مه غواړه د سمال زما ملنګی اوښکې
غلی بهیږه په ګریوان څوک دی پروا نلري
خدایه په مونږ د سپینو شمعو باران وورو ی
په داسې شپو کې مو ژوندون دی چې سبا نلري
دلاس په کاڼو مې یې ګونګی دروازی ماتې کړې
خدایه د چم ښکلی بخیل دی هیڅ سخا نلري
زما د سوی زړه لمبو ته په خندا مه راځئ
د سری اور دی پتنګانو څه رڼا نلري
زما غزل لکه موسی دخدای د نور لیونی
د طور په کاڼو ښویدلی دی امسا نلري
آشنا راځه غاړه غړی شو ژوند کړو مینه مینه
عمر د ژمي مازدیګر دیه وفا نلري
رحماني ) ) مه کره غزل کې د دیدن تخمونه))
دلته د مینې کلمه کومه مانا نلري
۱۳۸۳/۲/۱۵

## معیوبه پېغله

زه د شهید وطن معیوبه پېغله
زه د ښکلا د پسرلیو
ماته ماته څانګه
زه د وختونو
په تېرو تېرو
اغزو کې رېژېدلې غوټۍ
زه مې د خپلو ځوانو ځوانو
آرمانونو په قاتل پسې
ستومانه جینۍ
زه د زخمي ګلاب
د سرو پاڼو
همزولې ورېمه
چې تو پانونه
دماښام د کنډوالو په لورې
ورېږې یمه
زه مې د خپل
حسن
په سرولمبو کې
هر وخت سوزېدلې یمه
د برېبوکۍ په څېر له ډېرو
خړو خړو مزارونو
ګرځېدلې یمه
ما د هوس په دروازه کې
د زمان په آس
د خپلو هیلو
سرې ډولۍ ته

ما ته همدغه دروازه کې
زما راغلي پېغلتوب ته
ښه راغلاست ونه ویل
زه مې د کلي
د زیړو مازدیګرو
په مزه پوه نشومه
نه مې منګی په اوږه کیښود
نه ګودر ته لاړم
نه مې په تور وربل
د چا په یاد
د مینې ګلان ونه ټومبل
ما د رنګینو اخترونو
په اوږدو شپو کې
په لاس نکریزې کیښولې
زه د شهید وطن
معیوبه پېغله
زه د ښکلا د پسرلیو
ماته ماته څانګه
زه د باروتو
او لمبو په تاوو کې
لویه شومه
سترګې کې ډکې له باروتو
او په زلفو مې
ګردونه پراته
لاس مې غوڅ شوی
پکې شرنګ شرنګ
د بنګړونشته دی

وربانديږ جوړدی
پر هرونه
اوس مې خال
په اننګو نښته دی
دا چې مې سترګو
له مودو
رانجه لیدلی نه دی
ځکه خو اوس
پخپلو پښو بڼو
زړونه د چا وړلای نشم
!! وخته
پداسې حال کې
څنګه سپین سترګي کوي؟
سینګار مې غواړي
معیوبه پېغله یم
هوس او سینګار نه پېژنم
له مانه پاتې
د همزولو مجلسونه دي
ورتللی نشم
۱۳۸۲/۵/۱

لیوني یو چې له داره ژوندون غواړو
عشقه مونږ خو ستا لپاره ژوندون غواړو
د چا مینی سوزیدلي پینګان کړو
تورو شپو ته له سهاره ژوندون غواړو
که د سامرغۍ مو الوزي له تنه
د مرګي په هره لاره ژوندون غواړو
د ښکلا پتهۍ زخمونو ته رابولو
شولو څڼکی له پرهاره ژوندون غواړو
رحماني)) د ګودرونو د وطن یو))
د بنګړو له شرنګهاره ژوندون غواړو
۱۳۸۲/۵/۲

څه شرین خوب وو له سندرومې غزل ټولول
د چم د ښکلو له خبرومې غزل ټولول
له غرونو غرونو له سیندونو اوښتم اوښتم
د شنو مرغانوله وزرومې غزل ټولول
د مینې توري چلیدلی د دیدن غشو کې
بس د ګلونو له لښکرو مې غزل ټولول
په هره خوا راځینې تښولی هوسۍ د غرونو
لکه سیلۍ له شنو ښترومې غزل ټولول
زمونږ د کلي ملنګانو بیا خیرات کړی وو
د زیارتو له منجورومې غزل ټولول
۱۳۸۲/۲/۹

ړنګ او بنګ تصویر یم د هنداری شاته پټ یمه
پلونه د جانان څارم د لارې شاته پټ یمه
څاڅې مې له ژبې هر ماښام ملکوتي نغمی
زه د خدای د مستی سندرماری شاته پټ یمه
ما به چې د ژوند مشال ګڼلو راته ویې ویل
یار دی نه یم ماریمه د باری شاته پټ یمه
دا رنګین وطن مې ظالمانو کړ لمبه لمبه
زه د تکو سرو وینو د داری شاته پټ یمه
راشه پسرلی شه د وصال بارانه تروهه
یو زخمي غاټول یم د شودیاری شاته پټ یمه
ستوري د امید تورو تیارو رانه غلا کړیدی
ځکه له سپوږمۍ نه څو څو واری شاته پټ یمه
۱۳۸۲/۳/۹

چې په تندي ورته دعا ليکمه
د دار په پړي نوم د چا ليکمه
خدايه د ژوند پاڼه مې مه ريژوه
داستان د مينې په ژړا ليکمه
لږ خو راتم شه مروره آشنا
وروستی غزل دی په موسکا ليکمه
سپوږمیه کړنګ وهع راوخيژه نور
نوم يې په پاڼو د سوما ليکمه
چې نور مې ووزي له نظرنه هغه
داسې تاويز پدې ملا ليکمه
ورپسې ګرځم ليونی ليونی
خپلې خبرې په هوا ليکمه
زما سلام له کبره کله اخلي
ساقي په جام ورته ښيرا ليکمه
۱۳۸۲/۸/۱۳

ځوکه د پامیر یې هریو غر درته سلام کوي
شور یې زلزله یې سمندر درته سلام کوي
ستا د مخ رڼازرې زرې کړ د سپوږمۍ غرور
ستوری غلامان دي ستا او لمر درته سلام کوي
پېغلې پېغلې اوښکې د پیغلو ټول ګریوانونو کې
لارې شي ګودر ته خو ګودر درته سلام کوي
خوب کې مې لیدلی ستا د سترګو لیونۍ ښکلا
ماتې به نیشي کړي هر ساغر درته سلام کوي
تا په خپلو وړانګو دماښام سترګې رندې کړلې
خود به مې د کلي ماز دیګر درته سلام کوي
پښو کې دې درتویې په سجدو شولو رنګین سپرلی
ځکه شنی بلبلی هر سحر درته سلام کوي
خود به سپېن سلام د ((رحماني)) درته بې قدره وي
داسې لیونیان خو لرو بر درته سلام کوي
۱۳۸۲/۱۲/۲

چې په لیمو کې ګرځوو د سترو شپو خوبونه
ښکلي ښه ونکړو جانانه په اغزو خوبونه
کله سر ږدمه د صحرا په تورو کاڼو باندې
کله کومه ستا په سپېڼو مړوندو خوبونه
چې بې خوبيومې ډیوې د بیلتانه سوزلي
په چا تعبیر کړمه اوس هاغه دلمبو خوبونه
زړونه د وپیچل سندروکې ماشوم مطربه
اوس د رباب په تار کې نغاړه د نغمو خوبونه
دخاموشۍ ښامار خوړلي لیونیان د مینې
خدای دی په لیچو کې راوښ کړه د بنګړو خوبونه
د ((رحماني)) سترګو ته مه راوړه رنګین اورونه
اوس یې عادت دی د سپېڅلو زولنو خوبونه
۱۳۸۳/٤/۲

درنو ستورو دباغ رنګین شبنم یی
دګلونو د پرهر وجود ملهم یی
زه د مینی د اوبو تندی وهلی
تا به څښمه ته اوبه ته مې زمزم یی
ستا تصویر راته په کاڼو کې موسکی شي
لکه لاره راشین شوی هر قدم یی
د پستو اوښکو په زړه کې بدی ساتم
په لیمو دې زنګوم د سترګونم یی
د غزل په تار ګنډی خړ ګریوانونه
د ښکلا د یوی رنګینی ستنی سپم یی
تاکې وینم د ژوندون ښکلي خوبونه
د رازونو له اوبو ډک جام جم یی
څیروی به یې په زور د آس نالونه
هر مغل ته مې د لارې اینبی بم یی
رحماني)) د عشق منزل ته درسره نه وړی))
پټ تبریزی پټ آواز د شومه دم یی
۲۱۳۸۲/۲

## ... یو شاعر ملګري ته

د ژوند کیسه شوله پردی د ژوند پیغام بدل دی
زهر به وڅښمه پرانکړي خو جام بدل دی
زړه رانه باسي په خندا کې مینه مینه وایي
رښتیا چې نن د شوخو سترګو انتقام بدل دی
څه په اخلاص مې نیت د مینی د لمانځه کړی وو
چا په سجده کې راته ووي چې امام بدل دی
کوترو ډېرې دورې وکړلی خو کوزې نشوی
ښکاري زمونږ د برجوري کلا بام بدل دی
سترګو کې مه رالیږه ماته لیونۍ اشاری
پام کوه پام د لیونی مینی انجام بدل دی
د خیال ماڼۍ ته مې دی نه راځي د چایادونه
د خیال پاچامې د وختونو په غلام بدل دی
۱۳۸۲/٤/۳

کلونه کیږي چې دورک ستوري له غمه ژاړي
د وطن پیغلی له کابله تر تورخمه ژاړي
په نن سبایي تېروم د خوشحالۍ په هیله
زما ځواني هم زماله عمر سره سمه ژاړي
ویلی شوو وڅڅیدو لاړلو اوبه اوبه شو
خدایه تر څو به مو په حال د ژوندون شمه ژاړي
چې ورخطا نشی لږ پام کړه د وصال طبیبه
ټول پرهرونه مې ناسور دي بې ملهمه ژاړي
ای د سحر وږمې لږ ورو راځه راویښ مې نکړې
د غوټۍ سترګې له هندارو د شبنمه ژاړي
ته چې په څانګو غشي ولې په ګل نښه نیسی
سوری چنار شي په سلګو تر شومه دمه ژاړي
زمونږ تر کلي د سندرو کاروان کله راځي؟
خوار ((رحماني)) له مودو مودو په تمه ژاړي
۱۳۸۳/۳/۲۲

ما به ګوری ما به وینی په خوبو کې
ستا له د ښته مې اغزي ورېدي پښو کې
څڅيد لی د رباب له ښکلي تاره
اوس مې نغاړه په پستو پستو نغمو کې
پتنګان به ولی نه را سره ژاړي
مو نږ لوی شوي يو رڼو رڼو لمبو کې
ته چې شولې د شينکي تاووس ښکه
خود دی ږدمه د قرآن په سيپاروکې
د سپوږمۍ لارې نور مه څاره جانانه
شي به کوزه دد ې غرونو په چينو کې
ځئ چې ورشو د وچ شوي ګودر خواته
ګوندې راوړو ترې سندرې ربابو کې
رحماني)) دی ګرانې دا سې بنديوان کړ))
چې تمام عمر به ژاړي زولنو کې
۱۳۸۳/۳/۲۳

لکه چې پرخه له ګلونو سره لوبې کوي
داسې مې زړه ستاله یادونو سره لوبې کوي
زما د اوښکو څاڅکي ځي لکه باران د سپرلي
څپې څپې شي له سیندونو سره لوبې کوي
زه د تیارو ښامار خوړلی رڼا څه پیژنم
دژوند ډیوه مې ماښامونو سره لوبې کوي
ملامت ندې لا په مینه پوهیدلی نه دی
زمونږه ښکلي چې له زړونو سره لوبې کوي
منم چې ستا د ښو غشي ښایسته دي مګر
ګوره له سوو پرهرونو سره لوبې کوي
زما غزل ته دا ترخې خبرې ولی کوی
افغان ماشوم دی له ماینونو سره لوبې کوي
رحماني)) خیال کې لاړ شي لاړشي تر هماغه کلي))
بیا د ګودر د مستو نجونو سره لوبې کوي
۱۳۸۲/۷/۱۲

دا چې مې زړه کې د ښکلا مرغۍ ټوپونه وهي
دلمر په څانګو د رڼا مرغۍ ټوپونه وهي
ښکاري بڼو ته دی راستون شو مرور پسرلی
بیا دی په شونډو د مسکا مرغۍ ټوپونه وهي
پښتنې پېغلې مخامخ درته کتلای نه شم
په اننګو دی د حیا مرغۍ ټوپونه وهي
زه د ښکاري جانان راتلو باندې خفه نه یم خو
خړو دامونو کې به بیا مرغۍ ټوپونه وهي
سپوږمۍ د مشکو مست باران ورباندې وورو
د مینې بڼ کې د وفا مرغۍ ټوپونه وهي
د ((رحماني)) د زړه په راز به شي خبره ګرانې
چې تخیل کې یې د چا مرغۍ ټوپونه وهي
۱۳۸۲/۷/۱۲

ښکاري چې ځان رانه پردی شو څه ویلای نه شم
زړه رانه واخلي زړه مې وړي خو زړه ترې وړلای نه شم
راځېنی وچ شو د زړګي د پرهرونو فصل
پخپلو اوښکو دچا سترګې اوبولای نشم
نور مې خوبونه ستاله یاده سره تللی نشي
نور دی یادونه په ښو کې زنګولای نشم
پکې ښکارېږي ستا د شنډو تصویرونه آشنا
ستا د وصال د ماښام شمه لګولای نشم
روږه روژه یم انتظار کړم د دیدن د آزان
لا خو د مینې د اوبو جامونه څښلای نشم
چې په ګودر د نجونو کټ کټ خندا وانه ورومه
په هغه ورځ ((رحماني )) مست غزل لیکلای نشم
۱۳۸۲/۶/۱۱

زه چې له خوبه هر سهار ویښیږم
د شنو مرغیو په چغار ویښیږم
د مینې پاڼې مې له خیاله شکوي
ستا د بنګړو په شرنګهار ویښیږم
زه مساپر یم د کوم ستړي کاروان
چې په نارو د خپل سالار ویښیږم
سپوږمۍ چې راشي د ګودر له پاسه
د شپې څو ځله په وار وار ویښیږم
ستا په خاطر په هره لار اوده شم
ستا په راتلو په هره لار ویښیږم
په کوم ماښام چې راته وګورې ته
له هغه خوب خمار خمار ویښیږم
۱۳۸۳/۳/۲

دا چې مې څنګه کې ګردونه له دښتو وريدي
د ژوند په آس باندې مې پيټې د اغزو وريدي
له هرې لارې هر ګړنګه غورځيدلی يمه
د ډيرو نجونو لوپټې مې پرهرو وريدي
د جنازو هر يوه بازو ته مې اوږه ورکړی
ما هر سنګر ته ماشينداری په اوږو وريدي
ستا د ليمو د سيند ساحل کې يې تعبير لټوم
د سترو شپو بلا خوبونه مې اوبو وريدي
خبر که د زلفو شمال يوړلم پروا نلري
د پتنګانو ايرې تل نيمګړو شپو وريدي
شيخه خو بيا هم ګناګاريمه او هغه دا چې
تل مې د ښکلو مينتونه په ليمو وريدي
رحماني)) نور به خپل غزل هغې ته چېرې ټومبې))
ها د ګودر لپاسه څانګې خوبه وريدي
۱۳۸۳/۳/۵

نه یم شبنم چې له پستو پستو ګلونو لویږم
د غرونو باد یم هر ساعت له ګړنګو نو لویږم
د خپلو سترګو له زخمي زخمي خوبونو لویږم
لکه سره وینه د شهید له پرهرونو لویږم
کله د غرو په څوکو څوکو خپل ټټر سولوم
کله د شنو ترخو لپاسه په کمرونو لویږم
خدای چې مین کړم د ښکلا په ماننګونو باندې
خود به د ګرد په څیر د هر ښکلي په پلونو لویږم
هیڅ نه پوهیږمه دا چا راته ښیرا کړیده
چې قدم اخلمه له خپلو آرمانونو لویږم
۱۳۸۲/۲/۲

ژاړمه سیندونو ته
خدایه دارنګین ژوندون خلک وایي ښکلی دی
ناز غواړي
او راز غواړي
زه وایم چې نه خلکو
سیند د سپینو اوښکو دی
لویږي دریابونو ته
ژاړمه سیندونو ته
زه وایم چې دا ژوندون
ښلکی کاغذي ګل دی
پاڼې یې خیالي خیالي
جوړی زمونږ له وینو نه
وخت رانه په غلا وړی
دغه تکی سرې وینې
پټې دي ګلونو ته
ژاړمه سیندونو ته
ټول د تیارو خلک یو
کرکه له رڼا کوو
نوروته دعا کوو
خپلو ته ښېرا کوو
یو ما چې رڼا غوښته
دادی سپېنه شمه شوم
درسته شپه بلېږمه
شنا ختو او قبرونو ته
ژاړمه سیندونو ته
ما خدای ته دعا وکړه
ګل ته مې ښېرا وکړه

ما ویل دا وختونه که
نوری جامې واغوندي
ګل د شنه ګودر به شم
ګورم به مدام د سیند
دی مستو موجونو ته
ژاړمه سیندونو ته
سترګی دغماز ژوندون
پټې پاتې نشولی
وازې شوی
غمازې شوی
ټول یې کړم
ناکام ناکام
خپلو آرمانونو ته
ژاړمه سیندونو ته
مینه کې د ستړیژوندون
داسې ستړی ستړی یم
ته به وا په خاورو کې
ایښې په ژړا ژړا
چا امانت مړی یم
بس د ژوند په تورکې به
دا سندره وایمه
تورو ځنځیرونو ته
ژاړمه سیندونو ته
زه تندی وهلی یم
سپینی اوبه غواړمه
راشه وه د ژوند ساقي
تانه په سلګو سلګو

پاکه مستي غوا ړمه
ټول ملنګ ملنګ شو لم
ځم به زیارتو نو ته
ژا ړمه سیند و نو ته
را شه چې ملګري شو
زړونه سره غوټه کړو
ملا د مینی وتړو
بیا دغم لوګري شو
زه او ته به ورک کړو نور
ګرانه آشنا
مونږ به شو
بیا زما باور دیه
ګوندي نغمې را ولو
ماتو ربابو نو ته
ژا ړمه سیند و نو ته
دوا ړو به شیند لی وي
زړی د خوږې مینی
پرش به پری سند ری وي
ټولی شپنی شګی به
سپینی ملغلری وي
څو مره به خوشحاله شي
بیا که تو تکۍ را غلې
جوړو دیوالو نو ته
ژا ړمه سیند و نو ته
وچې شوې چینی د عشق
تند ی زو رو ری شو ی
نو ر ټولی خو بنۍ د ژوند

مانه مروری شوي
شاړ گودر خوته وینی
څنگه په سلګو دی نن
ستا قاتلان وګوره
ما وژني وفا وژني
يو ((رحماني))څنګه اوس
مینه په سلګو راوړي
ببلا ببلو زړونو ته
ژاړمه سیندونو ته
۱۳۸۳/٤/۱۲

له ډيوو سره همدم د رپسې ژاړي
ماشوم زړه مې لا اوس هم د رپسې ژاړي
زيړ لمر شوی د رڼا په نيلې لاړی
د شنو پولو دوڼ شبنم د رپسې ژاړي
که ژوندون مې ويلی ويلی شي په تاپسې
لا به لږوي لا به کم د رپسې ژاړي
د ګودر ملکې مه ځه ما زديګر کې
يو شاعر ترشومه دم د رپسې ژاړي
لټوي دی د ځنګل په چمنو کی
رحماني )) په هر قدم د رپسې ژاړي))
۱۳۸۲/۵/۷

پا ستە بانە دی چې ترې پورې وزي
له سوري زړه مې زخمي ستوري وزي
زما همزولی ځوانیمرګی هیلی
د غم له کلي په هر لورې وزي
((چې د خپل ورور په سر ګزار نکوي))
((زمونږ له صف دی دا کمزوري وزي ))
زمان مکان ته دا سې ښلکې راوړل
د لمر له وړانګو نه يې سيوري وزي
هغه زما جانان زما جانان شو
رقيبان ګوره چې مختوري وزي
چې به تصویر پکې د یار نځیدوه
هغه پیالی ببرته نسکورې وزي
مست ((رحماني ) ) ته مست کتل مه کوه
له مست غزل نه يې سر زوري وزي
۱۳۸۳/۳/۲

دا چې مې ساندې له پر هره خېژي
شیخ مې د اوښکو په سندره خېژي
راځینی ورک دیه رنګین مازدیګر
خاورې ګردونه له ګودره خېژي
ښایي قسمت ورته دعا کړې وي
څوک چې د ښکلو له نظره خېژي
چې رسیدای نشي بازان د رقیب
هلته زما دخیال کوتره خېژي
جانان ویل ماسره زور مه وهه
((دزورور اوبه په بره خېژي ))
د اوښکو کڅ ته مې د هیلو بېړۍ
د آرمانو له سمندره خېژي
لکه چې خیژي ګله ستا له مخه
هسې رڼا کله له لمره خېژي
د (( رحماني ) ) د خیال رنګین طاووسه
بیا دی بڼکې لوزره خېژي
۱۳۸۲/۷/۲۳

خاوری ګردونه ستا په پله پریو تل
ځګه غمونه مې په زړه پریوتل
دزړه په باغ مې چې ورګډ شولی ته
ښلکي ګلان خواره واره پریوتل
بیګا رایاد شوی مسا پره آشنا
یاغي خیالونه مې له غره پریوتل
راشه څېره دی رانه هېره شوله
ستا د راتلو په مخ کې څه پریوتل
هغه شیبه امام سیلۍ واخیسته
چې مقتدیان یې په سجده پریوتل
د پاکې مینې پخواني یادونه
دزړه په کورمې میلمانه پریوتل

وینه د زړګي مې څڅیدلی له پرهاره وه
ځکه د جانان تر کلي سره وربانده لاره وه
کلی تری پنا وو ګودرونه تری پنا پنا
وړی مې په خیال کې د خوبونو له دیاره وه
هرې خواته تلله ورخطا لکه دغرو هوسۍ
بیا راته د کلي په کوڅه کې را ایساره وه
مخې ته مې راغله را ته ویل یې په سلګو سلګو
کله رسیدلی دا خبره تر انګاره وه
داسې لکه خدای چې اسمان ځمکه کې کرلی وي
ښنو کې مې راماته د جانان د مخ هنداره وه
خلکو د هوس په نامه ښکلي دنیاګۍ زما
پانه دخزان وه رالویدلی له چیناره وه
۱۳۸۲/۲/۹

ته چې راتلی زه لکه ګل دی پسرلي غوړېدم
لکه نرګس لکه ګلاب لکه ریدي غوړېدم
تا چې په شندو ښکلو لمه شکولمه دی
زه به ضرور زه خامخا زه به حتمی غوړېدم
ومه تصویر ستا په سرو سترګو کې د سرو غوټیو
پروته نوم چې په مخ د اغزي غوړېدم
په هره سا کې مې ننښتی وو دیار خوبونه
دعشق سندره غوندې ځکه په زړګي غوړېدم
چې د اغزیو رقیبان مې مخ ته ودریدل
د انځیر ګل شوم دماښام په تړږمۍ غوړېدم
له سپینو ګوتو مې د سیند اوبو رڼا وړی وه
لکه د پیغلې لاس په سر د سره منګي غوړېدم
تا چې ویل ((رحماني)) ستا یمه د بل چانه یم
مسته هوا شوم په وزرو د شین توتي غوړېدم
۱۳۸۲/۲/۱۰

زاهده مانه که جانان یاغي شو
له تانه هم دین او ایمان یاغي شو
دا په بد یا باندې د سر لیوني
ضمیر یاغي شو ترې وجدان یاغي شو
هغه چې ما ته تقوا ټینګ ګڼلو
د یار په یوه نظر ترې ځان یاغي شو
سالار د عقل یې چې مخ ولیده
په نیمه لار کې ترې کاروان یاغي شو
تا چې نظر زما په لوری وکړ
بس رانه هر د ژوند آرمان یاغي شو
۱۳۸۱/۷/۸

چې یو آرمان یې بل آرمان ته په ښېرو ستړی وي
ژوند به یې خود لکه غرڅه په کړنګو ستړی وي
خوارېږه دردونه مې په سوي بدن داسې تېر شي
لکه مین چې معشوقې ته په ګیلو ستړی وي
مونږه شپېلۍ په کاڼو ولو نغمې نه پېژنو
د کلي شپون چې لالهاند ګرځي په غرو ستړی وي
خیال سندره خو مې لمره تالیدلی نده
د وړانګو مات رامات رباب بدې تر څو ستړی وي
د غرونو لارې ورته نیسه که دیدن یې کوی
یار دی ملنګ نه دی چې تل په زیارتو ستړی وي
۱۳۸۱/۷/۹

مخ دی مینځلی وو جانانه د سپوږمۍ په اوبو
ځکه دی یو رڼلو زما ماشوم زړګی په اوبو
د تورو سترګو ساحلو نو ته دی ځان رسوي
بیا مې ورګډه شوه د خیال ماته بېړۍ په اوبو
زاهده وایه نو په څه به ګناګار و مه زه
او دس د مینی خو مې کړې د مستۍ په اوبو
خدای که رقیب ته چېرې وګوری په هسکو سترګو
چا چې مینځلی وي احساس د بې ننګۍ په اوبو
ستا له پستو لاسونو ځار شمه طبیبه یاره
له پرهرونو نه مې یو سه مړی سلګۍ په اوبو
داسې غوټۍ خورم خپلو اوښکو کې مغرور جانانه
لکه غوټۍ چې وهي تل مستې هیلۍ په اوبو
ما ویل له مخ نه به یې لرې کړي پراته ګردونه
دی لیوني تو پان لاهو کړلی غوټۍ په اوبو
۱۳۸۲/۸/۱۲

يو څه له خپل ښايسته څه له مانه شرميده
جانان هم عجيبه وو له خپل ځانه شرميده
کوله يې ماښام راته څه ښکلې شان خبره
په خوله باندې يې راله خو حيا نه شرميده
ولاړ په نيمه شپه کې د سپوږمۍ رڼا ته وو
حېران يمه چې بيا هم يار له چانه شرميده
ګيله وه يوه لمبه وه زما په ژبه تله راتله
خو زړه مې ستا د حسن او ښکلا نه شرميده
له ما سره په ياد کې د جانان ايره ايره شول
پدې چې ستوري هم له سپېن سبا نه شرميده
سيليو د هجران وو ((رحماني)) درته راوړې
در شل ته دی هم راغې خو له تانه شرميده
۱۳۸۲/۹/۱۱

سبا

د سبا وړانګې خپرې دي
ژندون نوی دوران دی
لمر په غرونو راختلی
د خوبونو کاروانونه
له ګړنګه غورځيدلی
د وينبتوب قافلي دروميږ درنها نبکلی منزل ته
خو دازه حيران پدې يم
چې دا مونږ ولی اوده يو
۱۳۸۲/۱۲/۱۲

چې د روح پاڼې مې د ژوند په مات وزر تېرېږي
دوې مرورې ښاپېرۍ په شنه ګودر تېرېږي
شبنمي يار راته ګلونو کې موسکا ونکړه
بيا رانه غلې په پستو وړانګو دلمر تېرېږي
زماخيالونه ستا ترکلي پورې څنګه درشي
لکه شمال د اسمانڅکو غرو په سرتېرېږي
له ستور سپېن دی د منګي سپېنوا وبو ته ورته
داسې يو ښکلې مې په زړه هر مازديګر تېرېږي
څه شوي زما د ژوند په سره سالو کې پټې پېغلې
ملنګی څړيکې مې د عشق په سره پرهر تېرېږي
سترګو ته راشي څه رنګين خواږه خوا ږه دردونه
د يار تصوير مې وخت نا وخت چې په نظر تېرېږي
۱۳۸۲/۱۲/۱٤

د ژوند په نوم راته یو چا د زهرو جام راوړی
قسمت مې ځکه مړاوو اوښکو ته سلام راوړی
ما د سبا تصویر لیدلو د سپېدو په تندی
خو دغه فکر مې دچا زلفو نن خام راوړی
ښايي چې بيا راځينی وغواړ د وینو ډیوي
سپېنو خیالو نو مې تیاره تیاره ماښام راوړی
نه یې سجده د مینی زده نه یې توبه له کرکې
د زړه کعبې ته مې يو چا داسې امام راوړی
ماچې په جړخوب کې لیدلی جړې وړې زلفی
نن یې تعبېر کې راته یار د زلفو دام راوړی
د راز خبرې ((رحماني ) ) درته غزل کې لیکي
د آرمانونو پرښتی ورته الهام راوړی
۱۳۸۲/۱/۵

## لاروی

تندی وهلی لاروی
چې د ژوندون د ښته کې
د مینی جل وهلی
سلګو په سر اخیستی
وایه چې دا لاروی
د زلفو سیوري ته
پریږدئ او که نه ؟
۱۳۸۲/۷/۷

تا په خندا ما په سلګو کې ووې
د مینی لمونځ مو په کتو کې ووې
ما پسې مه ژاړه سلګی مه وهه
داسې یو څه دی راته تلو کې ووې
تر بیا لیدو پدې نشه نشه وم
تا به چې څه په اشارو کې ووې
ستا د ښایست د لیونتوب ترانې
سپرلي په ګل سپرلي نغمو کې ووې
ما د وفا او ماد مینې سبق
ستا د سپین مخ په سیپارو کې ووې
ستا د نامه خورې ورې کلمې
ستا ((رحماني)) په زولنو کې ووې
۱۳۸۲/۷/۹

**((وايي چې پښه خپله پښه پېژني))**

خو زما جانان ولې مانه پېژني
راځه چې بيا غاړه غړۍ شو سره
ما ستا دکلي خلک څه پېژني
زما سلګۍ هم دهغه سلګۍ دي
څوک چې په مينه سوي زړه پېژني
له بې خوبيو تکی سری اوښتي
سترګې زما کله رانجه پېژني
ته مې چې خوا ته په خندا کې راغلې
اوس مې نو دا غمازان ښه پېژني
دغه له مينې نه زړه توري خلک
کله غزل کله ټپه پېژني
۱۳۸۳/۱/۲۲

یو سپین پتنګ یمه لمبې مې سوزي
جانانه ستا د مخ شغلې مې سوزي
را سره ژاړي نیمې شپې د ژوندون
داسې هوا یم چې ډیوې مې سوزي
چامې د بخت اس په سکروټو ګډ کړ
زما تنها کې سوزي، پښې مې سوزي
دلته راغلي دي د کرکې دیوان
له مینې ډکې ترانې مې سوزي
اوس ښه پوهیږم سندرمارې نجلۍ
ستا د سندرو زمزمې مې سوزي
۱۳۸۳/۱/۹

## مئین

زمونږ د سیند اوبه چې
کله ناکله د توپان په لاس
ځپه ځپه شي
ماته په هره ځپه
یو ازې ستا تصویر
موسکې موسکې شي
وایه چې تا باندې
مئین یم که نه ؟
۱۳۸۲/۷/۲۷

تا ویل پردي یو ما ویل خپل یو دواړه
دوی ښکلې پاڼې د یوه ګل یو دواړه
په رڼو او ښکو باندې شپې رڼوو
بلې ۀ یوې د یوه محفل یو دواړه
ولې به کاڼې په مونږ نه وریږي
نن لیونیان د دې محل یو دواړه
وایه وختونه به مو څنګه بېل کړي؟
تن او وجود دویه او بل یو دواړه
مونږ وو د کرکې او جفا دښمنان
اوس شهیدان د دې مورچل یو دواړه
لکه سندرې په نغمو پسې ځو
د ((رحماني)) د خولې غزل یو دواړه
۱۳۸۲/۷/۲۸

د څو وژلو آرمانونو په څادر لمنځونه
يمه والړ ادا کومه سر په سر لمنځونه
په ورک تصوير پسې دې زه جانانه داسې يمه
لک قضا چې شي د ښکلي پېغمبر لمنځونه
د ملغلرو باران اوري د سيندونو په سر
پېغلو ټوکړيدي په غاړه د ګودر لمنځونه
د تورو شپو اغزنو لارو کې راغلی يمه
کړم په لمبو کې څه د مينی مساپر لمنځونه
خوبه په غيږه کې مو يوسه ، مګر دومره هم نه
چې شي قضا رانه په لوي لاس د سحر لمنځونه
رحماني ) ) درومه د دعا په بدرګو کې به ځي))
امام د څړيکو دی ادا کړل د پرهر لمنځونه
١٣٨٣/٨/٨

ښکلی یار مې د ګړنګ تږی غرڅه دی
په چینه د زخمي زړه مې اموخته دی
سترې سترې هر خوا ورپسې ګرځم
مودی وشی چې له ما ځینی خفه دی
واړه ښکلي د مرګونو مساپر شول
خو ته مه ځه زړه مې تا باندې ډاډه دی
درته ګورمه سپوږمۍ ته را ګوره
رنګین خیال مې د رڼو ستورو میلمه دی
چې آرمام یې په لوی لاس راځینی وړې
څوک به وایي چې زما جانان بې زړه دی
د سرو وینو په سیندونو کې به لو یږي
ستا مین ستا د وطن زخمي مرغه دی
ستا په یاد کې لکه یخ اوبه اوبه شو
رحماني)) دی چې لیده اوس هغه نه دی))
۱۳۸۳/۱۱/۱۲

مونږه د هيلو له کاروانه نيمه خوا پاتې يو
وزر مو مات دی له ژوندونه له هوا پاتې يو
خورو تنديکونه ګړنګو سره ډغرې وهو
په تور ماښام کې چې په تمه د رڼا پاتې يو
مونږ د سپېدو په مهال سترګې له رڼا پټې کړي
اوس داسې ښکاري چې له غېږې د سبا پاتې يو
له پښو مو ماتې ندي لاهم د خوبونو کړۍ
د اميدو له کلي لرې په صحرا پاتې يو
د پلار ګټلي عظمتونه مو له لاسه روان
د خپواني برم په ياد کې له هر چا پاتې يو
۱۳۸۲/۷/۲

يوه شيبه چې زه له تا سره وم
دآرمانونو له غوغا سره وم
په ژبه راشي ښکلي ښکلي توري
دغزلونو له مولا سره وم
د ژوند غمونه راته سرټيټوي
د هوسونو له دنيا سره وم
د تاخبرې مې دزړه سندرې
ترنګ د رباب شم له نوا سره وم
۱۳۸۲/۱۲/۱۱

لمبه لمبه شو مه ډیوې راسره مه ژړوئ

زه دی ژړیږمه خو شپې راسره مه ژړوئ

خبر که یوه څړیکه د شهیدو پرهرونو یمه

خو د یتیم زړه ترانې راسره مه ژړوئ

زما د ژوند ببړۍ که غرقه شوه خو قرقه شوله

اوس مې د روح د سیند څپې راسره مه ژړوئ

تږو تیارو ته مې ورڅښلې د زخمونو اوبه

سهار مې یو سې خو سپېدې راسره مه ژړوئ

ستا د مسکا رنګینه څانګه نه یم ګرانه یاره

زخمې رباب یمه نغمې راسره مه ژړوئ

۱۳۸۲/۱۲/۱۳

توبې تر پښو لاندې کومه ننوا ته ورځم
لکه مجنون په نیمه شپه خپلې لیلا ته ورځم
چې د ښکلا اووم آسمان یې څه مغروره نشي
زه د سپوږمۍ په رنګ ککړ د ستورو خوا ته ورځم
ما ته به خدای وي دا لیکلی د ازل په قلم
چې سر په لاس هر وخت د ښکلو قتلګا ته ورځم
مګر مجبوریمه له ژوند سره مې لوظ کړیدی
د مړاوي زړه سره د هیلو مسیحا ته ورځم
دغه بدرنګه انسانان مې له نظره نکړي
لکه سندره د وژلي خیال نوا ته ورځم
۱۳۸۲/۷/۱۷

نوی فریاد نوی پرهر یم څوک مې نه پېژني
دلته راغلی مساپر یم څوک مې نه پېژني
لکه زخمي هوسۍ تر غرونو په ژړا واوښتم
خدایه دا څنګه مازدیګر یم څوک مې نه پېژني
ماکې به څنګه ستا د کلي مرغان ځاله وکړي
د لوړو غرونو مات نښتر یم څوک مې نه پېژني
چې بې ریا مې د غوټیو خولی درواوزې کړلې
د شنه سهار ختلې لمر یم څوک مې نه پېژني
په غزل زړه باندې مې هیڅا اوښکې تویې نکړې
زه د لفظونو جادوګریم څوک مې نه پېژني
رحماني)) پرې مې ږده له چا ځینی ګیله نکوم))
له خپل قسمته مروریم څوک مې نه پېژني
۱۳۸۲/۵/۱۵

پروا نکړي که زما له خنګه لاړې
وخت به راشي چې به ته راپسې ژاړې
په پاسته لاس دې راوینښ کړمه له خوبه
اوس جلوی د حسن ولې رانه نغاړې
زه د مینې د ګلونو آرمانجن یم
ته مې هیلې د اغزو په څوکو ژباړې
لاالهاند به ګرځیږې زه به نه وم
په دعا دعا به ماله خدایه غواړې
چې ویل دې ((رحماني)) نورم ې کړه هیره
هاشیبه مې خوله کې وچې شولې لاړې
۱۳۸۲/۹/۲۷

پېغلې دا خو زه منم چې پښتنه يې
د ښکلا او د حيا سپينه ټوټه يې
سکه خور يې د غيرت غيرت ملالۍ
ته د ننګ او د احساس هغه ټپه يې
ګوره زه هم د وطن سترې زلمی يم
زلې دمره په دا خپل حسن غره يې
زه دی هم له تورو سترګو همت غواړم
خو ته مخ راڅينی نغاړې او خفه يې
۱۳۸۲/۷/۱۳

له ژړا ډکه او غمګینه دعا
لاس مې نیولی کړم رنګینه دعا
ښایي قبوله شي منظوره به شي
دا زما کړي بې آمینه دعا
خدای به یې ولې درته نه قبلوي
ستا دلاسونو نازنینه دعا
پرښتو یوړله په مینه مینه
کله چې تاړ وکړه په مینه دعا
چې پکې زه دې ځوانیمرګ وغوښتم
زما خوښیږي دا سې سپېنه دعا
د آرمانونو په لمبو کې وسوه
د اوسیلو په تاو وکې خوږینه دعا
تا پرهرونه لیپې لیپې راکړل
ما درته رنګ کړله په وینه دعا
۱۳۸۱/۳/۲۱

د بدیا مساپر

د زمان خړه بدیا کې
زه یو داسې مساپر یم
چې تر څو زما ژوندون وي
زه به هم په چیغو سر یم
له مامه غواړی سندری
ماته مه کوی خبری
زما ژوندیو داسې ژوند دی
چې خوښي پکې وژلی
دماشومو آرمانونو
هره ساتکې قتلیږي
خلکو ځی له مانه لاړ شئ
دی بیدیا کې تنها ښه یم
د ازل په کرښو ځمه
خپل منزل به لټومه
۱۳۸۲/۹/۲۹

سندرې ژاړی له لنډيو نه مې وينې څاڅي
ګلونه څه چې له غوټيو نه مې وينې څاڅي
څانګی ماتيږي هره خوا کې هيلی جل وهلی
ګودر وچ شوی له منګيو نه مې وينې څاڅي
د کلي پېغله مخ ته راغله په ژړا ايي ويل
څوانه لږ چپ چې پاوليونه مې وينې څاڅي
تنکي خوبونه مې له سترګو مهاجر شول چېرې
چې له مشاومو پرهوښکيو نه مې وينې څاڅي
د ليوني په نوم هر چا په کاڼو وويشتلم
له کاڼو بو او اغزيو نه مې وينې څاڅي
د (( رحماني )) د څړيکو شين فصل به ورسوي
د پرهارونو له لښتيو نه مې وينې څاڅي
۱۳۸۲/۱۱/۲۰

دزردشت د اور لمبی يو ، د مرګي سندرې وايو
آسمانونو خفه نشی ، څ، خدايي سندری وايو

چې په خپل لاس دی وژلو ، اوس نو مه راپسې ژاړه
ستا دکلي هدیره کې ، د سپوږمۍ سندري وايو
ای د هیلو ورک منزله ، مونږ به درشو که به ومرو
چې دژوند په سترږی لار کې آرماني سندري وايو
اوف ! ! خوبونه دی له سترګو ، راجلا نشي جانانه
مونږ خو هسې لیونیان یو ، کړو زګېروی سندري وايو
وه خزان خزان قسمته پسرلی مې راستانه کړه
چې په ښار کې د ګلونو ، د اغزی سندري وايو
دښکلا سپېڼې پردی دې ، لږه ها خوا کړه له مخه
رحماني ) ) درته راغلی ، ځو عشقي سندري وايو ))
۱۳۸۲/۱۱/۲۱

راځه چې کښېنو د چينار سيوري ته
د تورو سترګو د پرهار سيوري ته
څۀ ناز دانه څه مستانه ومه زه
چې او ديدلم به دهار سيوري ته
شو به روان په ترنم ترنم
ژوند به کوو د يکه زار سيوري ته
هره شپه خوب وينم چې د رشمه زه
د زلفو تال کې د رحسار سيوري ته
زما د کلي نغمو سا ور کړی
بيا د باروتو د امبار سيوري ته
۱۳۸۲/۱۲/۲۳

مه وایه چې چېرته ځو او چاته رسیدلی یو
مونږ د تیارو ستوري اوس سبا ته رسیدلي یو
راشه راته وګوره زمانه څنګه ښکلې یو
نور د بد رنګۍ په لار ښکلا ته رسیدلي یو
پاڼې د نرګس یو ګرانه ستا په پلونو سیوري کړو
ستا تر قدم لاندې غوړیدا ته رسیدلي یو
نه یو ګناګار زمونږه واګې د بل لاس کې ده
غشي یو د سترګې هوسۍ ملا ته رسیدلي یو
اوس که د تیارو غوټۍ شنې کیږي نو راشنې دی شي
ستا د زفلو تار باندې رڼا ته رسیدلي یو
ولی رانه نغاړې غلې غلې د نظر بیخکې
پلی د اغزو په لاره تاته رسیدلي یو
۱۳۸۲/۱۲/۲٤

چې ورسپاري د رڼا تابوت ماښام ته
خوشحالي به څنګه راشي زما قام ته
د نظر د نیلۍ واګې مې پردې شوې
سترګو واحیستمه ستا د سترګو جام ته
چې مې ښکلوې خرڅوې په قاتلانو
څنګه سر ټیټ کړمه دی کافر امام ته
زه به سل ځله سلام په ژبه راوړم
ته چې نه وایې ځواب زما سلام ته
پټې سترګې شو روان د رڼا خواته
نظرنکوو د لارې ایښې دام ته
۱۳۸۱/۷/۱۹

تاچې ړ سندرو جامې واغوستې
راج مې د کوترو جامې واغوستې
ښکاري د زړګي فصل مې بيا ريبي
بيا دی د لوګرو جامې واغوستې
ټول مساپر ژوند مې هيله هيله شو
يار د مساپرو جامې واغوستې
ختمې شوی او رونو کې د توت څانګې
ښار مو د ننښترو حامې واغوستې
هره خوښي مخ راځينی اړوي
ژوند د مرورو جامې واغوستې
زړه کې مې ښيښې د عشق راماتې شوی
شيخ چې د کوډګرو جامې واغوستې
۱۳۸۲/۸/۱۸

ماتې څانګې

زما د سوي زړګي ماتې څانګې
چې له ګلونو مروري ښکاري
ښکاري چې بيا به غوټۍ ونه نيسي
له اغزو ډکې سربېرې ښکاري

ما د دردونو د چينې په غاړه
د خپل قسمت ترخه جامونه څښلي
ما د ژوندون پدې سورۍ لپه کې
د خپل زړګي مات تصويرونه څښلي
ما ديو څو ګړۍ ژووندون په هيله
د خوت په سيوري کې خپل سيوري ورک کړ
چې چېرته څم تياري کټ کټ وخاندي
په تورو شپو کې مې يو ستوری ورک کړ

مخ پټوي راځينی غلې تېر شي
زما د هيلو نيمه خوا پسرلی
ګمان مې نشي چې به کله راشي
زما په لورې باندې بيا پسرلی
۱۳۸۲/۳/۱

کلو نه کیږي چې په تا پسې ستو مانه ګرځم
په دښتو غرو کې سترې ستړی بې جانانه ګرځم
دجړو زلفو په تارودی راته زړه تړلی
دلیوني ځیر لاس غورځوم پریشانه ګرځم
خوا ته مې مه راځه جانانه څه پروا نلري
عجب ژوندون دی دغه زه چې بې له تانه ګرځم
ستا د نظر ډیوې به ورمه په زخمي منګل کې
لښکر د ستورویم تیاره کې له اسمانه ګرځم
دچا په سترګو پسې زخمي زخمي شاعریمه زه
ښامار خو نیم چې لالونو دښکلا نه ګرځم
په یوه نظر دی رانه زړه وړې چلبازه یاره
بېرته یې راکړه زه او خدای چې ډېر پښېمانه ګرځم
اوښکه مې ماته په زړا شوه راته ویې ویل
رحماني)) نور به ستا دمینې ترحانه ګرځم))
۱۳۸۲/۸/۸

شنه کیږي چې بې وخته سره ګلونه پدې لاړو
تا ایښې دي جانانه قدمونه پدې لاړو
تاکړيدي مزلونو کې خوبونه پدې لاړو
ماکړيدي ريښتېنی فريادونه پدې لاړو
ترمنځ مو فاصلې اوږدې اوږدې لکه ستا زلفې
اغزو کې غزيدلي دي مزلونه پدې لاړو
راځی پرې هر ماښام دچا ملنګ ملنګ يادونه
دکاږو په سر ږدمه څراغونه پدې لاړو
د امات تندی مې ګوره دا زخمي زړګی مې ګوره
ستا ياد کې مې خوړلي تندیکونه پدې لاړو
دسولی قاصد ګوره چې دلمر په نیلۍ راغی
راځئ چې ورته ښخ کړو څوبمونه پدې لاړو
جانانه که راتللی شا او خوا کاږې به ګوری
لیکلی ((رحماني)) د درد شعرونه پدې لاړو
۱۳۸۲/۸/۹

## تعبير

بيګامې خوب ليدلو
چې ديوه سيند په غاړه
د مازديګر په مهال ډېر لالهانده ګرځم
دلمر په سپينو وړانګو
خپل قدمونه ايږدم
مستو څپو ددې سيند
رانه يو ګل وړی وي
د خوب تعبير مې خلکو
رښتيا رښتيا وختو
سهار چې ويښ شومه زه
چاراته دا وويل
آشنا دی ځي له کلي
څو چې وي ژوند په دنيا
بيا به راستون نشي
بيا به راستون نشي
١٣٨٢/٤/١٤

.... تکړه زرګر عبدالحلیم ماماته
دښکلا زرګره
ای د ښایست ای د ښکلا زرګره
زما د کلي د هر چا زرګره
راشه په پلو دی خاوری پریوتلی
پدغه لارو باندې بیا زرګره

ته د جمال ته د هنر چینه یي
ستا له لاسونو ملغلرې اوري
ته د زاړه هوس زړه نغمه یي
ستا له خوږې ژبې سندرې اوري

ستا په لاسو باندې جوړ شوي امیل
د هرې پېغلی په وربل کې زانګي
هادشینکو غمیو ښکلي ټیکان
د دوي دزلفو په هرول کې زانګي

نن چې راواخلي سره منګي پېغلوټې
تاهم په لارو ترګودر یادوي
یو ځلی راشه په هماغه لارو
هم دی ماښام هم مازدیګر یادوي

وهي په غوږ کې یې وروستۍ ټالونه
ورته چې تاوې جوړې کړې لښتۍ
نن ترې سیلیو د زمان وړیدي
هغه له تانه پټې کړې نتګۍ

چېرته پنا شوي ښایسته زرګره
زمونږ تر کلي یو ځل بیا راشه
هره شیبه درپسې ښکلی زاړي
اوس داسې مکړه خامخا راشه

همغه کلی دی هغه کوڅې دي
بیا بنجاغره شه سوغاتونه راوړه
چې په پستو غاړو کې ټال ووهي
داسې څو ښکلي امیلونه راوړه

آیا ستا هیرې شوي هغه خنداوې؟
چې درته ښکلو جینکیو کړلي
آیا دریادې اوس هغه وختونه ؟
چې یې کیسی دغاړکیو کړلي

ته به چې راغللی زمونږ کوڅوته
په هره خوا به اوازه پرته وه
دخوشحالیو له احساس نه ډکه
په هره ژبه ترانه پرته وه

ته چې اوس نه راځی بس داسې چل دی
چې هم ښایست او هم ښکلا نیمګړی
دکلي ښکلو ته چې ته وریاد شی
خوله کې یې پاتې شي خندا نیګړی

ته که سپین ږیری او بوډا شولې نن
لا د هم ګوتو کې هنر اوده دی
ستا تیر یادونه لا تر اوسه ځوان دی

نوم د دهر يوه زړه په سر اوده دی

ښکاري چې کلي ته مې نه راځی نور
وږو وختونو دځوانۍ وخوړه
داسې به کړي ستا (( رحماني )) لولپه
لکه چې ستايي زنده ګي وخوړه
۱۳۸۲/۱۱/۲

خاموشه څړيکه يم پر هر کې اوسم
نه يم ملنګ چې ستا په درکې اوسم
په مهرابونو کې مې مه لټوه
تللی خماريم په ساغر کې اوسم
هوا د غرونو مې خوراک ده خوراک
زه د ياغي مرغه وزر کې اوسم
خبر که يوه ماته ملغلره يمه
دخپلو اوښکو سمندر کې اوسم
سر به مې ټيټ نشي رقيب ته کله
ته به د مينی په سنګر کې اوسم
دکوم زخمي بلبل داستان مې بوله
دهسکو غرونو په نښتر کې اوسم
لکه په شنو اوبو تصوير د پېغلې
د دغه کلي په ګودر کې اوسم
که رانه لاړې قافلې د سحر
بيابه په لمر د مازديګر کې اوسم
رحماني )) ورک به شي غماز له کلي))
هم به په لر هم به په بر کې اوسم
۱۳۸۲/۷/۲۳

دا چې غرور يې تر اسمان ورسيد
د ښکلا اوج ته مې جانان ورسيد
پرې د ځوانۍ مستې شيبې تېرېږي
رنګين منزل ته يې کاروان ورسيد
د حس نوی نوی ورېږي کاندي
د ژوند تر للمه يې باران ورسيد
نور دې يادونه د سرو سترګو نکړم
د رقيب لاس مې تر ګريوان ورسيد
دا د ځوانۍ دا د مستۍ پسرلی
ښه شو چې تا ته په امان ورسيد
ستا ((رحماني)) خو به لمبه کړي لمبه
د هيلو بڼ ته يې خزان ورسيد
١٣٨٢/٧/٢٢

لکه ځوک چې پېغلې هیلی ، دښکلا په غیشو ولي
یاد مینی توپانونه ، دغوغا په غیشو ولي
دا زما سکه ورورانِ دی، ناست د کرکې په کمین کې
رسیدلی قافله چې ، د جفا په غیشو ولي
هره وړانګه یې ګولۍ ده ، د وروستیو چېغو لمر دی
د راغلو شپو ګریوان به ، دسبا په غیشو ولي
چې مې غشي په لاس ورکړ، درقیب د سر لپاره
نن همغه راپسې دیه ، او ما په غیشو ولي
له رقیب سره خو دوست شوی ، خو ګمان نکوم یاره
وخت به راشي چې زما په شان به ،تا په غیشو ولي
همدغه پښتون احساس دی، لرې نشي ترې جانانه
ستا پښتون پښتون نظر چې ، د حیا په غیشو ولي
رحماني ) ) اوس نو ته وایه ، له پردو به څه ګیله وي ))
خپل آشنا چې راولاړشي، خپل آشنا په غیشو ولي
۱۳۸۳/۲/٤

نه خو په شار نه په بنګله کې اوسم
د غرونو ګل یمه په غره کې اوسم
لکه له باغ ځینی نیولی مرغه
د رواجونو په پنجره کې اوسم
هسې په خوله ښکلا ښکلا یادوم
خدای که خوزه د ښکلو زړه کې اوسم
له هاره پاتې ملغلره یمه
د خپلو اوښکو په پیاله کې اوسم
دزړه د ښار مړاوی رڼا چې ګورم
روح د پتنګ شم په ډیوه کې اوسم
۱۳۸۲/۸/۵

## مخه ښه

د سبا په دروازه کې له تیارو مخه ښه کړو
د موسکا قافلې راغلې له سلګو مخه ښه کړو
دهوا آزاد مرغان وو خو رابندوو په قفس کې
خوصلې مو وې راماتې د ژوندون سترې جرس کې
د مزل توان پاتې نوو یو زره زمونږ په وس کې
مونږ د وینو ډیوی راوړي ماښامو مخه ښه کړو
د موسکا قافلې راغلې له سلګو مخه ښه کړو
هر یتیم به په خندا شي په سلګو به نه ژړیږي
د شاغر غزل به ګل شي په اغزو به نه ژړیږي
مړ ادم به راژوندی شي او درخو به نه ژویږي
بیا له خپلو سره پخلا شوو له پردو مخه ښه کړو
د موسکاقافلې راغلې له سلګو مخه ښه کړو
خاموشي مو خوښه نده د سیندونو په څپو کې
د سپوږمۍ رڼاوی غواړو ددی غرونو په چینو کې
رنګین ستوري به راشنه کړو د ګلونو کروندو کې
نن په دواړو سترګو وینی نفرتو مخه ښه کړو
دموسکا قافلې راغلې له سلګو مخه ښه کړو
خامخا مو پوره شي دا سپېڅلي آرمانونه
دزمان خونړی جنګ کې څو وژلي آرمانونه
هم به ببرته راستانه شي ټول شړلي آرمانونه
رحماني ) ) زندان مات کړی زولنو مخه ښه کړو))
دموسکا قافلی راغی له سلګو مخه ښه کړو
۱۳۸۱/۷/۱۸

ته چې تلې زه لکه شمه سوزیدلم
ستا په یاد کې اوښکې اوښکې ویلیدلم
ها شیبه زه شاعر نومه ماشوم وم
یاره تا پسې په چیغو ژړیدلم
له سینې مې د سلګو بهیر رامات وو
لکه وینه له پر هاره څڅیدلم
څه منصور ومه د چا د پاکې مینې
څه په مینه به د دار سرته ختلم
خدایه څومره ناز دانه او مستانه وم
په سینه د ښاپیرو به ادیدلم
نن مې سره ته د صحرا کاڼي امبار کړل
د سپېره خاورو په غیږ کې څملاستلم
۱۳۸۱/۷/۱۹

ترانه که له سندرو نه رنګ اخلي
زمانه ستا له خبرو نه رنګ اخلي
دفطرت لاسونه کله ورسيږي
شنه مرغان له شنو ښترونه رنګ اخلي
دا پاشلي ستوري ټول تياره تياره دي
ستا د هار له ملغلرونه رنګ اخلي
دا هر خوا قطار قطار خړمزارونه
رونړ سهار يي له بکرو نه رنګ اخلي
دا تصوير د ژوندانه نا مکمل دی
باز له وينو د کوترو رنګ اخلي
ښکلي خيال مې د رنګين آسمان هواده
د طاووس له شنو وزرونه رنګ اخلي
رحماني ) ) دغه زخمي زخمي غزل مې))
د ګلونو دلوګرونه رنګ اخلي
۱۳۸۳/۳/۳

لکه چې تللی زمان بیرته چاته بیا نه راځي
هسې له مونږه خوښې تللی ده خندا نه راځي
په اننګو دی پریوتلی د باروتو لوګي
په وچو شنډو دی جانانه چې موسکا نه راځي
مونږ کبرجنو شمې نه خیستې له ځانه سره
نن په دعا کې رڼا غواړو خو رڼا نه راځي
هم پوهیدلو راته چا دغه خبر کړې وه
چې په لښتي کې اوبه لاړې شي په شانه راځي
د لمر له سترګې مو تراشلي رقیبانو ستوري
زمونږه تورو تورو شپو ته چې سبا نه راځي
۱۳۸۳/۳/۷

په غیشو د اجل تقدیر ویشتلی یو شاعر
دژوند له سترې آسه غورځیدلی یو شاعر
ماشومې پرښتې یې په یادونو ژویدیې
د اوښکو په حامونو یې مینځلی یو شاعر
پرهر پرهر وجود یې په آرام راټولوي
له سترو آرمانونو ریژیدلې یو شاعر
له توته له چیناره سپینې اوښکې څڅیدې
دچا په انتظار کې ژړیدلی یو شاعر
تصویر ترینه خفه دیه شوګیر خفه خفه
د مینې په هنداره ښویدلی یو شاعر
زړه تورې مرورو او خلو بې له مخه ښې
لدې کلې په چیغو چیغو تللی یو شاعر
نیمګړی((تبسم )) په وچو شنډو ځوانمرګ شو
نیګړو خنداګانو کې مې غلې یو شاعر
۱۳۸۱/۸/۱۲

د اروابناد مجید تبسم په یا د

له تاندو څړيکو د شباب پر یوتم
د لاريې ګرد وم په ګلاب پریوتم
اوس مې نو واخله دا ماشومه دعا
لکه تندی ستا په مجراب پریوتم
دخپل زړګي زخمي آدم یمه زه
سترې ستومانه په رباب پریوتم
زه ستا د مینې جل وخلې ومه
له ډېرې تندې په سراب پریوتم
تا به له ماځینی سندرې غلا کړې
زه به د مینی په کتاب پریوتم
ښايي چې تور مابنام لیدلی ومه
پېغله رڼا وم له نقاب پریوتم
اوبال خو نیمه آزارخو نه یم
خبر دی نن که له ثواب پریوتم
١٣٨٢/٨/١٢

## زه او ته چې ماشوما وو

زه او ته چې ماشومان وو
په یوه داسې لار روان وو
چې له مونږ مخکې پرې تللی
سپینکي ستوري د آسمان وو
د لالونو په امیدومو
لاس کې خیستي ښاماران وو
زما دزه په توره دړه
چا لیکلي یو داستان دی
هر یو توری یې سپین ستوري
او سرلیک یې شین آسمان دی
ځه چې دی داستان ته غوږ شو
سوي څرېکی یې عنوان دی
ته راویښه شه له خوبه
دلته کښینه بستری ته
یوه کیسه درته کومه
یوه خبر مې راغله خولې ته
په کیسه کې پټپټاني
دواړه ځو هغه کوڅې ته
نه اول زاړه جومات ته
لدې خپلو سیپارو سره
پلار وهلی له خپل کوره
له وړو وړو سلګو سره
د ملا مخ کې به ناست وو
هلګانو جینکو سره
بابه مخکې سبق تېر کړ

ما به وروسته سبق تېر کړ
م ملا لاس کې شنه لښته
یو او بل مو سره هېر کړ
د سپارې د مخ هر توری
پا به زور کړما په زیر کړ
په شریکه سپاره کې
دواړو ویلې سبقونه
نښانه مو پکې ایښې
هره پاڼه کې ګلونه
د تاووس شینکۍ بڼکه
د غوټیو تصویرونه
د سبق وخت به چې خلاص شو
بیا به جوړ آمین آمین شو
د آمین په بدرګو کې
به ملا له خندا شین شو
ستا په مخ خولې راماتې
له خولو نه به تک سپین شو
وی وی دا خو په ژړا شوی
زه کیبه کړم او ته ژاړې
چې په زړه داسې نرۍ یې
بیا نو ولې کیسې غواړې
د کیسې پدغه سر کې
ته په کومو خیالو لاړې
اوف کیسه شوه را هېره
رسید لې تر کوم ځایه
د کیسې سر رانه ورک شو
څه هېر جن یمه وه خدایه

اوښکې وچې په دسمال کړه
رسومه يې تر پايه
زه پوهيږمه چې تاته
در په ياد څه خاطرې شوی
ستا د اوښکو ملغلرې
په ګريوان دانې دانې شوی
واه دا سترګو ته دې ګوره
څه موزونې ترانې شوی
هه ! رایاد پاتې کيسه شوه
راوتو چې له جوماته
زما لاس کې سپاره وه
او بل لاس مې درکړ تاته
په کږو وږو وزينو کې
وو روان د ديوال خواته
يوه شيبه به تېره نوه
شوو به سر په پټپټانو
په کوڅو کې به خوره شوه
يو غوغا د ماشومانو
چې به خلاصې کنډاولی شوی
تاويدو به له توتانو
دلته ماته ژړا راغله
صبر اوښکې پاکومه
که شي ببرته درپه ياده
داکيسه درته کومه
ته رادې خواکړه پړونې
لوند ګريوان پرې وچومه
ګوره څومره ښه کيسه ده

هم غزل دی هم ټپه ده
چې وبه ده نشې ته غوږ شه
کیسه دلته لږ خوږه ده
غبرګ غوږونه دی پرې کېږده
یوه ماشومه خاطره ده
زه او ته چې کوچني وو
په خدای دسې لیوني وو
چې مات کړي مو په کاڼو
د مرمرو سپین غمي وو
ها د شنډتوت سره د یاد شي
چې سواره په توغندي وو
له کارتوسو به موجوړی
څه وړې وړې ګوډۍ کړی
په باروتو به مې ښکلې
د لیځکو کوټنۍ کړې
او د کاڼو تر اوښانو
په مو لاندې سرې غوټۍ کړې
څه وړې وړې سندرې
ما او تاسره ویلی
ما په سل سندرې راوړې
بیا به ستا نه خوښیدلی
خو اخیر به څو سندرې
مونږ په غبرګه واخیستلې
ماشومتوب هم عجیبه وي
آه سلګۍ مې خولې ته راغله
د سیندرو یوه مستـه
ښاپیرۍ مې خولې ته راغله

راته یاد یوه ټپه شوه
په سختۍ مې خولې ته راغله
خو ټپې مو ډېرې ډېرې
له شپونکي نه اورېدلی
د ټپو له سپین کتابه
تا یاد کړې ما یاد کړې
هم پوهېږو چې ملالۍ
څه په شرنګ سره وېلې
ما او تا به کړلې لوبې
چې خوره به اوازه شوه
یو شیبه به تېره نوه
رابنکاره به جنازه شوه
ها د پوري غره لمن کې
د شپونکي کوڅه کړه شوه
ها زما تر ملا مچنو غزه
دهمدې شهید شپونکي وه
پټه کړې مې ترې نوه
ده راکړې شیریني وه
یوه ورځ رمه ترې ورکه
ماورکړې نښاني وه
مونږ د کلي په جومات کې
د شهید شپونکي په غم وو
مړه پسونه خو لا پرېږده
سرلکي خوړلی بم وو
د وروستۍ دعغا لپاره
د شپونکي کور کې راتم
چې په کلي کې ژړا شوه

اویو بل تابوت یې راووړ
د سرو وینو په الوان کې
دیوه ګل تابوت یې راووړ
په کفن کې د شنو پاڼو
د بلبل تابوت یې راووړ
ددې کلي هغه ځوان وو
چې په آس لاړو غزا ته
چې له مور یې مخه ښه کړه
ما د روښودلو تاته
نن یې تورې څڼې نشته
ککرۍ یې سل ځه ماته
دا د کلي وروستۍ ځوان وو
چې مرګ پرېښی له نظر وو
په آتڼ له هر چا مخکې
څنه ور وو څڼه ور وو
دزمري په څیر ورغلی
د روسانو په لښکر وو
هغه آس چې د دده پلار وو
له پخوا څخه ساتلې
نن پنځوسو الوتکو
په درنو بمو ویشتلی
وو شهید له خپله پلاره
په زارو زارو بیولې
د شهید په جنازه وو
چې دوي توري الوتکي راغلې غبرګې
دشهید زخمي بدن یې بیا لمبه کړ
ورسره د کلي پېغلې ځوانیمرګې

ستا و اړه لاسونه سره پخپلو وینو
له باروتو شولی ډکې زما سترګې
ها د پورې غره لمن کې
یوه د ستورو کرونده ده
پکې خښ د رڼا تخم
یوه پلنه هدیره ده
هر یو قبر د شهید دی
دا سپینکۍ شناخته دده ده
هغه وران او خړپړ قبر
زمونږ د کلي د شپانه دی
ها په شناخته شپیلۍ ګوري
په همدې سره نښانه دی
بس زما پدې کیسه کې
دا مثال د ژوندانه دی
زه زړا واخیستم ګرانی
اما توبه ګرانې غلت شوم
ته خو هم را سره ژړیږي
پدې توره نیمه شپه کې
لکه شمه دا سې ویلیږي
اوس چې کله کله لاړ شو
هغه شنې پورې غونډۍ ته
بیا را وګرو په مینه
هر هلک نجلۍ ته
بس له درده پنا یو سو
د کوچیانو یوې کیږدۍ ته
غم لړلې ماشومتوب وو
د باروتو په لمبو کې

لکه اوس چې در په درپه
داسې وو هغه‌وختوکې
لکه سیند چې ګلاب یوسي
دباران خړو اوبوکې
دا کیسه زما دخیال
په لوغړن د یوال لیکلې
خو په خدای که بې له تا مې
وي بل چا ته دړاسې کړې
هغه تېره زمانه مې
په زړګي راګرځیدلې
نور ورځه که اوده کیږې
مونږه هسې ټوله اوده یو
خو که ګل یو ګه اغزي یو
په سرو وینو کې راشنه یو
تا ته ټول مالوم مالوم دي
زه به څۀ وایم چې څه یو
نن مې خیال کې رامیلمنه کړې
اوس ته چېرې یې راغلې
چې په ښه او بده پوه شوو
بیا مې کله یې لیدلې
خو پدې مې کلک باور دی
چې زه تا او ته په ماپسې ځوریدلې
۱۳۸۲/۱۲/۱۵

خدايه په وطن مې دګلو نو باران راولی
دغه شډل کل ته د سولې کاروان راولی
ډکې مې کوڅې شولی دکرکې له ديوانونه
ته ورته د مينی يو سپيڅلی جانان راولی
بيا به مې د ځور او آزار خبرې نکوي
اوښکې د رقيب که په شليدلی ګريوان راولی
لاس کې لوله کې غوارم کوڅوکې پټپټاني بيا
تللی ماشومتوب مې په يو نيو دوران راولی
شور پکې ورک شوي مازديګر پکې خفه خفه
برو چينارونو ته شړلی مرغان راولی
مه ورڅخه نغاړه له حيا په لوپټه کې مخ
ګوره ((رحماني)) بدي له مينی پښمان راولی
۱۳۸۲/۱۲/۲۰

نه مې آشنا دی نه مې هم چېر ليدلی راځي
خو د زه کورته مې په مينه غلې غلې راځي
د زړه هنداری په خندا شه ماته ماته شه بيا
خوب مې ليدلی نن به بيا درته کوم ښکلی راځي
اد دی له ماسره آشنا شو زه له ياده سره
لکه ملنګ د زړه حجرې ته نابللی راځي
ښکارزن جانانه د توت څنګ کې ورته پټ او سيږه
زخمي مرغه تر خپلې ځالې پښه نيولی راځي
ښکلی هر ځای کې محترم که کافر وي خو خم
بس نو د مينی په قانون کې ډير ښاغلی راځي
که يې تر منځ فاصلی هر څو اوږدې وې جانانه
خو (( رحماني )) درته په سرو سکروټو پلېراځي
۱۳۸۳/۹/۹

په قدم قدم کې شين شه ما در واخله
يوه څپه د اباسين شه ما در واخله
زه دخپلو ارمانو يتيم تصوير يم
دهندای په څير سپين شه ما در واخله
راکوزيږه له اسمان د بوډۍ ټاله
په اوو رنګو رنګين شه مادر واخله
له زړګي مې غشې مه باسه خو خبر
دی شينکي آس ته مې زين شه مادرواخله
ته د سپينو سپينو شمو دزړه تار يې
د رڼا کالبوت کې خوږين شه ما در واخله
د غوټيو په څير ګونځې ګونځې مه شه
د جانان تندیه ورین شه مادرواخله
رحماني ) )دی لکه سيوری وړه ګودر ته))
ګرانه لمر دماسپښين شه مادرواخله
۱۳۸۲/۷/۶

کله قاتل شي کله زړه راکوي
د ځنکدن په مهال خوله راکوي
چې موسکا وکړي او بیا مخ واړوي
ما ته یې دا کتل مزه راکوي
چې مساپر یې کړم د زلفو د شپو
اوس نو د سپین مخ ډیوې نه راکوي
که د جانان زړه ته مې کډه لاړه
سپینې شدې به د مرغه راکوي
لاس مې یې ټینګ کړ مخ یې واړولو
خدای خبر بیا په لاس کې څه راکوي
ښکلیه له ناز دی بې پروا خو نیم
ما ته غزل ماته ټپه راکوي
۱۳۸۳/۳/۱۳

له ژونده تښتي په خندا پرې د دار نيسي
څومره سر تېري ليونيان دي مرګ ته لار نيسي
چې پسرلی مو رايسار کړل د فطرت په لاسو
سپوږمۍ به خود رنګينې څانګې د چنار نيسي
ژوندونه زيرې مې درباندې چاته ونه وايي
زما د سوو آرمانونو ونه بار نيسي
چې بلې کړې مو په زړه کې ستا د حسن ډيوې
نو د تيارو غله به له مونږ څنګه سهار نيسي
له قافلې يمه ورک شوې څه سپېرې دوړې دي
زما د آس ليونی سترګې ترې غبار نيسي
چې په مزار مې خړې خړې جنډې ورپيږي
رقيب به هلته بيا زما د مينې ښار نيسي
۱۳۸۲/۷/۲۵

... شاعر ملګری عالم غزیزي ته د یوه لیک په ترڅ کې

د شپونکي د وینو څاڅکي

سلام سلام ستا په وختونو سلام
غزیزي ستا په آرمانونو سلام
چې پکې اوسي د سندرو مرغان
ستا د غزل په شنو بیتونو سلام

ډیوې د اوښکو دې پیدا کړې که نه
زما دنیمو شپو همراز ملګریه
د واړو به ویشتلو ماښام په غیشو
زما عښتلی تیر انداز ملګریه

د شعر نیلۍ ته مې ستا یاد راشي
په غرونو مسته په شنهها لاړه شي
د اوښکو لار کې په کټ کټ وخاندي
شنه ښاپیرۍ شي په مسکا لاړه شي

آشنا منې یې هه باور پرې وکړه
د خیال مرغه مې راته جل وهلی
جانان کافر شو جانان قتل کوي
د درد په توره یې غزل وهلی

ملګریه زیرې مې دربانديې ګرانه
دلته ماشومې شمې ځوانی شولې
چې یې په زړه د منزل هیلی وی

## ها قافلې پرون روانې شولې

(( یو شین سهار مو ړ ((د کوثر په غاړه
یوه د مستۍ مشاعره لرله
ما ویل آه چې ته خو هم وی پکې
خدایږو چې څومره بې مزه لرله

هغه واړه خو غزلبول شاعران
نام خدا کاروان کاروان ښکاري
لیونو یو او بل ته لاس ورکړې
د یو منزل په لور روان ښکاري

آشنا اوس ته دغه دعا ووې کوه
چې لوټماران مو قافله لوټ نکړي
زمونږ د مینې او ښکلا پانګه
دغه د حسن خزانه لوټ نکړي

که خدای کول رابیداریږي خلک
نور بې له سترګونه خوبونه څاځي
ښکاري سپوږمی زمونږ په غم ژړلي
دلته ((په غرونو کې لالونه )) څاځي

مونږه لا اوس هم د ماښام په قبر
د سهارونو ترانې غږوو
خو د شهید احساس په یاد کې به هم
څو ویرلړلی قصیدې غږوو

مونږ لا د مینې لاره پریښې نده

دغزل اور په او سیلو پوکوو
مونږه په شنو لوګو کې لمر لټوو
دا مړې ایرې چې په آهو پوکوو

خور په وطن شاعرانه محیط دی
بیا د سندرو ارزاني راغلی
د نفرتونو لګیدلې سیلۍ
ځپې ځپې په رحماني راغلی
۱۳۸۳/۳/۲۸

وخت دی پسرلی دی سره ګلونه وریدلي دي
ستا د سندریز حسن بادونه وریدلي دي
زړه مې ستا کتو باندې آشنا کنډو کپر شولو
ته به وایې کابل دی پرې بمونه وریدلي دي
پرې مې ږده چې زه خو یې غاټول د ښایستونو شم
ستا د ژوند پر للمه بارانونه وریدلي دي
نه پوهیږم نه پوهیږم یاره راته وو ایه
څنګه مې ستا پښو ته آرمانونه وریدلي دي
وخته ما نهیلۍ هیلمنه غیږ کې مه نیسه
پام کړه په بدن مې پرهرونه وریدلي دي
وه ر((حماني)) ته چې په مستۍ مستۍ غزل لیکي
بیا دی په زړګي دچا یادون وریدلي دي
۱۳۸۳/۲/۱۲

څومره ترخه جامونه څښمه
د اوښکو څاڅکې فريادونه څښمه
آشنا له مانه څه پوښتنې کوي
خپل اوبه شوي آرمانونه څښمه
زړه کې زما به سهارونه شنه شي
دا چې تياری او ماښمونه څښمه
ناست يم د حسن د چينی په غاړه
ستا دفراق زهيرين غوړپونه څښمه
تا د ښايست له مکيدی ويستم
خود به لهتندی نه اورونه څښمه
چې پکې ژوند د ((رحماني)) لاهو شو
هغه څپې هغه موجونه څښمه
۱۳۸۱/۳/۱۷

مینه شوم سند ره شوم سازونو کې مې ونغاړه
لک پسرلی په سروګلونو کې مې ونغاړه
ځار دی د ټکور زړګي له ښکلو ارمانونو شم
زه هم آرمانجن یم آرمانونو کې مې ونغاړه
ما به په ژوندون کې دګوزدر یادونه ډیر کول
روح دمړه شاعر شومه سیندونو کې مې ونغاړه
غشي مې راوړي ستا له کلي په ځیګر کې دي
ټول زخمي زخمي یم پرهرونو کې مې ونغاړه
زه دخپل وطن په دنګو غرو باندې مین زلمی
پېغلې ستا د زلفو تورو غرونو کې مې ونغاړه
خوب وینم چې راشې ((رحماني)) ته داسې ووایې
ستا په مستو مستو غزلونو کې مې ونغاړه
۱۳۸۱/٤/۱۷

ځپې د ځړیکو راشي د مرهم په لورې ځي
له جامه خمار واخلي بیا د جم په لورې ځي
کاروان د ښکلو ګوره په خندا راخوځيدلی
کنعان ته یي نور شاکړه د عجم په لورې ځي
سر شار مسته زلمیه څنې څه ته لوځوې
نغمې ملکوتي دي د آدم په لورې ځي
رښتیا چې ستا د مینې څه سرتېري لیونیان دي
اختر په کاڼو ولي خو د غم په لورې ځي
چې څښلي یې رڼا ووي د ښکلا د خراغونو
اوس دا پتنګان ژاړي د تورتم په لورې ځي
دا بیا مې چاکوځې ته دا بدرنګ دیوان راوړې
چې پېغلې ښاپېرۍ ترې د تورخم په لورې ځي
۱۳۸۲/۳/۲٤

چې د آدم له غیږې اخلي د رباب جنازه
خود به له تاندو چیغو یوسي د شباب جنازه
کلیه د ښکلو دیدنونه دې وړیا وړیا شول
وحشي بادنو ترینه یوړه د نقاب جنازه
زاهد به مونږ ته په دنیا کې دوزخونه کړل
چې د دوزخ اورته یې لاړه دثواب جنازه
ځله یې وپوښتم چې تالره یې څه وویل
ریبار په ماتو اوږو راوړه دځواب جنازه
رحماني)) داسې د زمان ناخوالو وځپلو))
چې دبلبل په اوښکو مینځو دګلاب جنازه
۱۳۸۲/۹/۲۷

مونږ په لمبو کې له لمبو ووتو
د زړونو غشي وو له زړو ووتو
د دې چمن د پسرلو په هيله
تنکي ګلان شوو له اغزو ووتو
مونږ وو ليدلي د سحر خوبونه
دا چې له تورو تورو شپو ووتو
لکه سندرې د بندي مرغانو
په چيغو چيغو له پنجرو ووتو
د تنګانو د بدن وينې شووو
سترې ماښام ته له ډيوو ووتو
يو چا په خيرو ګريوانونو خندل
مونږ له محفل نه په سلګو ووتو
رحماني)) اوسو به د لمر غيږه کې))
که خدای کول له تربړمو ووتو
۱۳۸۳/۶/۶

ځانګې اودې شولې چنار اوده دی
باغي مرغان مړه دي چغار اوده دی
ښکلې مو چيچي په زهرينو غاښو
د مومن خان په سر ښامار اوده دی
ځکه مې ژوند ځينی مايوسه قسمت
دآرمانونو په زار اوده دی
چې په سندرو به يې خلک وژل
نن يې په غيږه کې سيتار اوده دی
چې پرې راتلل به د هوس پسرلی
ستا((رحماني)) په هغه لار اوده د ی
۱۳۸۲/۹/۲۹

نه خو وړانګه د سبا نه ماز دیګریم
له کړنګه غورځیدلی زخمي لمر یم
ښویدلی مې په سر د آس نالونه
دمغل په پښو کې کانې د خیبر یم
څوک مې نه پریږدي په کلي او کوڅو کې
خدایه داڅومره بې قدره مسا پر یم
ښکاري نور مې د بخت ستوری غورځیدلې
ورک منزل ته چې په ورکو لارو سر یم
مړه شمله مې د زمان سیلۍ کړه نیغه
اوس رقیب لره مالوم په هر ډګر یم
رحماني )) زما جانان ته داسې وایه))
زه دچا له لاسه داسې در په در یم ؟
۱۳۸۳/۱/۱۷

نوم

ما چې ستا نوم لیکلو
نو په درنو کاڼو مې
د خیال شاتوت وویشته
نازکې څانګې یې خورې ورې شوې
بیا مې د زړه پر ځمکه
تک سره شاتوت راتوي شول
ما د شاتوتو په رنګ
لکه د زړه په وینو
د خپل ځیګر په تخته
جانانه ستا نوم
د سلګو په قلم
ټول په ژړا ژړا ولیکلو
۱۳۸۲/۱/۱۸

لکه نظر چې څوک د ښکلو په تصویر وتړي
مینه هم داسې له دردو سره ضمیر وتړي
چې بې له خدایه مو بل چاته سرټیټ کړی ندی
مونږ لیوناین به نو څوک څنګه په زنځیر وتړي
جانانه ستا له منیې ډک داسې نظر غواړمه
چې مې له سترګو نه د اوښکو مات بهیر وتړي
دا چې بدلون د زمانې ندې نو څۀ دی خلکو
چېمریدان شي راولاړ غاړه د پیر وتړي
مګر که راغلل دی ورطن ته د ښکلا د ښمنان
د ستورو پنډی به په څوکو د پامیر وتړي
۱۳۸۲/٦/۱۳

بیا به پسرلی وي په منگلو به للمې شکوو
یو بل ته به خاندو له سرو گلو به للمې شکوو
نیمه شپه به ویښ شو زه او ته له خپل خوا ړه خوبه
شو به ماشوا ن تر لمر ختلو به للمې شکوو
ته دتیپې سر وایه او زه د تیپې بیخ وایم
بس نو د سندرو په ویلو به للمې شکوو
مخکې بدې زانگي د نرگسو تکې شنې غوټۍ
شو به لیوني او په ښکنځلو به للمې شکوو
ویره د رقیب بدي له زړه خزان خزان کړی بیا
تاسره ((رحماني)) دی په غزلو به للمې شکوو
۱۳۸۲/۶/۱۴

چې هد يرې مې په ژوند يو زوروري شولې
لاړې خوښې هم بل وطن ته مساپرې شولې
چې شنې نکريزې مو د يو بل په لاسو ايښودی ؛
نن د اختر هغه اوږدې شپې مروري شولې
مچې بلولې يې ژوندون لره د هيلو ډيوې
نن سوي سانتدې دهوس هغه سندرې شولې
منيه افغان ده او د اکر ک سره روسي فوځونه
دلته تباه د افغاني منيی لښکرې شولې
مازديگر زاړي له سيند غاړو فريادونه راځي
گودره پيغلې دي کوم ځای ته مهاجرې شولې
رحماني)) ټول پرهر پرهر يې ملامت نه يي خو))
ماشومې هيلی دی د اور کوځو کې ستړې شولې
۱۳۸۲/۱۲/۲۸

شپې مې ليونۍ شوې كه خوبونوكې مې ته اوسې
خوب مې مهاجر دى په خيالونو كې مې ته اوسې
څومره مې دزړه له دنياګۍ ځينې چارپيره يې
اوښكې خو لاځۀ چېفريادونوكې مې ته اوسې
مه راځخه پوښته د رنګونوازلي داستان
زه د وينو سيديم په موجونوكې مې ته اوسې
څه ته اوردوي پرې دړجفا درانه درانه كاڼي
خدايږو پدې ځوانو آرمانونوكې مې ته اوسې
سپينيسولې راشه((رحماني))) درپسې ړوند شولول
ګوره ددى سپين غزل بيتونو كې مې ته اوسې
۱۳۸۱/۱۲/۲۶

زده کوم چې له ځنګ د ځنګ ژبه
ستا په غاښو کې مې ده د غزل ژبه
چې ودان پرې د سنرو سوي ښار شي
دزه لاس مې مې راوړم دبلبل ژبه
ماراوړې دګیلو سل منه بار وو
رانه وادې خیسته څو مره په چل ژبه
دباران څاڅکې دشنو مرغانو پېی شوي
د سکروټو په تیغ وسوه دګل ژبه
په وګړو به یې یوه یوه ټپه ویشم
سراسر که شوه پښتو دمحل ژبه
رحماني )) یکه زارمه ورځخه غواړه))
لا خو ده زخمي زخمي د کابل ژبه
۱۳۸۲/۱۱/۲۰

لکه وینه په رګونو کې مې ګرځي
شیرین روح یې په هډونو کې مې ګرځي
بختوری څړیکې ژوند دمبارک شه
څه په تاندو پر هرونو کې مې ګرځي
د شهید جانان زخمي زخمي ژوندونه
په رنګه رنګه خوبونو کې مې ګرځي
څه پسته خوږه وږمه د پسرلي شوې
د شنوبنګو په قصلونو کې مې ګرځې
دزخمي تندي زخمي زخمي سجده یې
دزه ګي په محرابونو کې مې ګرځې
رحماني) ) ته د امید څپوکې راشه))
سهار ورکو ماشومونو کې مې ګرځې
۱۳۸۲/۱۰/۲۰

چې د ماښام په لاس دې ورکړ د ډیوو امامت
نو سپین سهار به څنګ اخلي د تیارو امامت
چې بلالي آه یې تر غرشه زمزمې کولې
داسې شهید ته باید ورکړو د سلګو امامت
له خوشحالۍ نه مې سجده کې اوښکې تویې شولې
د سپین آزان ژبه مې ماخلي د ټپو امامت
مونږ په یوه ښکلې پیغمبر پسې اقتدا کړیده
ضمیر مو نه مني هیڅکله د پردو امامت
ژوندونه پښې مې په مزلونو کې تنها کې شولې
زما له غاړې نه دروا خله د وختو امامت
۱۳۸۲/۱۰/۱۸

د ورځې سل ځله وعدې ماتوي
شيخ ليوني دی شيخ توبې ماتوي
له مانه دی مړ شو په ښکلو پسې
ديې يي مه شه چې پيالی ماتوي
دومره مين دلمر په وړانګو ندي
دخلو تونو په زور شپې ماتوي
ما خو ويل کله ماشوم په کانو
زما د زړه د ښار شيشې ماتوي
زندانه بيا به په سلګو شي سلګو
دا ځوان ضمير مې زولنی ماتوي
پيغلو رڼا ووته ماښام راغلې
د سپنو ستورو دووازې ماتوي
رحماني)) څه خوارم کې شپون يمه زه))
هم مې شپېلۍ هم مې نغمې ماتوي
۱۳۸۱/۱۰/۲

خوب د سترو شپو یمه تعبیر مې کړه
وامې خله په زلفو کې اسیر مې کړه
زه د خدای د منیی غزلتوري یم
دومره بې مانانه یم تفسیر مې کړه
لمر وم د مغرب کلي ته ولویدم
وړانګه د سبا شه خوراګیر مې کړه
دا بانه په زړه باندې زغمي نه شم
راشه ستا د خپل وجوزد ضمیر مې کړه
ته له سپوژکۍ ځلنده هنداره شوي
زه خو سپره کانې یم تصویر مي کړه
توغ د پاکې مینی چې پرهر کې وړې
خدایه د همدې لښکر امیر مې کړه
۱۳۸۳/۱۲/۲۱

ځپې
او د سپرلي مستې سيلۍ چې کله
پراته ګلان ځپې ځپې واړوي
يا وکوم بلبل د ترنم په ژبه
په تانده ژبه کې نغمې واړوي
په خداى باور پرې وکړه
دغه زما ايمان دستا شي
که دروغ به وايم
دا سيې ښکاريږي
لکه هر ماښام چې
ته له ماپټ د تورو زلفو غرونه لکه ښامار په خپله ملا
ځپې ځپې واړوي
۱۳۸۲/۱۱/۱۲

لیونی درد مې په پرهار پرېږده
ځوانو سلګو کې مې حمار پرېږده
زه د ماښام نهنګ خوړلی یمه
بلې ډیوې راته لار پرېږده
له جنازې مې آرمانونه څاڅي
آشنا لحد ته مې قار پرېږده
قالتو شپو څومره قتلونه نو کړل
زمونږه کلي ته سهار پرېږده
ګوند ېراشنې شي ګلابونه راوړي
اوښکې دی زما په خړ مزار پرېږده
رانه په لوي لاس ښاپیری تښتوي
کیسه د زلفو او دهار پرېږده
نظر به زه وربانديې ټک وهمه
نوم دی په ډډه د چنار پرېږده
په وینو ومیځه سور رنګ دغشو
دژوند تصویر ته یو یادګار پرېږده
رحماني)) واخله ګړندې ګامونه))
دقافلې اوښان مهار پرېږده
۱۳۸۲/۱۱/۱۸

# خوب

بیګا مې خوب لیدلو
چې ماشوم شوی وم
بیا مې د کلي په زاړه جومات کې
د محراب څنګ ته
په یوه کونج کې ناست وم
بیا مې په لاس کې ها زړه سیپاره
زما په اوښکو کې لنده سیپاره
چې مې ګندلې وه په سلو تارو
خولې خولې وې
او شکېدلې ښکارې
زه هم هماغسې ماشوم آواز کې
تالو نه خورم
الف او ب وایمه
۱۳۸۲/۹/۲۰

شمې مې د اوښکو په راز پوه شولې
ژاړي غلې غلې په سلګو شولې
راشه جبریله وحی بیا راوړه
مینې مو ښکلا ته په سجدو شولې
ما ویل چې زه به درته ژاړمه
ته خو له ما مخکې په ګیلو شولې
پریږده چې یو خو ؛پ د زلما وګورم
هیلې مې لمبه ستا په وغدو شولې
واورو ځینې سپنې سپوږمکۍ زما
بیا ولې ملګرې د سفیدو شولې
راشه ((رحماني)) ته غوږ کې وو ایه
دا ولې له مینې په توبو شولې
۱۳۸۲/۷/۸

لکه موسم د پسرلي چې وي په کال کې نغښتي
هسې یو څوک ترنیمو شپو وي زما خیال کې نغښتي
د آرمان کلي ته د هجر بادو وړي آشنا
خوند خو د مینې وي رښتیا ستا په وصال کې نغښتي
ګرانه باور وکړه چې سوی زړه مې ستا لپاره
لکه سوغات د دوو یارانو وي د سمال کې نغښتي
په یوه نظر مې پولادي توبې زرې زرې کړې
داسې تاثیر دیه آشنا ستا په جمال کې نغښتي
دا ((رحماني)) که د زمان غیره کې بل ډول شو
جانانه ستا ښایست هم خامخا زوال کې نغښتي
۱۳۸۲/۷/۱۰

وطنه هره یوه چینه دی ځپ ځپانده غواړم
د وچکالۍ په خړه مزار جنډه رپانده غواړم
ستوري دي راشي پدې شنډ توت کې دی ځاله وکړي
سپوږمۍ په ځانګو د چنار کې اویزانده غواړم
دزړه موسی به مې در وړي په یوه مات صندوق کې
کاله کې تیره د فرعون ویاله بهانده غواړم
زه پدې باغ کې د وږمو کاروان ته لار لټوم
زه د سندرو دبڼ هره غوټۍ تانده غواړم
پوهیږم سترګې دی قاتلی دی قتلونه کوي
دا چې نظر د دغوټۍ په خیر نیم ژونده غواړم
۱۳۸۲/۱۲/۲۲

دمجبوریت مساپر
دلته پدې غرونو
هم پدې لارو
روښانه نښی
دیو چا د پلونو
دتکو سرو وینو
له څاڅکو سره یو ځای تللی
خو ددی کلي پل کتونکی
پدې نه پوهیږي
چې پدې سترو
غرنیولارو څوک تللی دی
صرف دومره وایي
چې ماښام
توره تیاره
دمجبوریت مساپر
لدغه کلي
په سلګو او په ژړا
تللی دي
۱۳۸۱/۲/۳

....د علامه رشاد د مړینی په یا د
پریوتي لمر ته

د توپاني شپې یخې یخې
اوستومانه شیبی
سپوږمۍ د هسکو
غرونو شاته
په وریځ کې پټه
باران ورسیږي
د بریښنا په رڼا ؛
لار ګورمه
له لاس او پښو
رواني وینې
په وار وار ګورمه
ګوندی مسکۍ شي
پککې وخاندي
د وینو ډیوی
ماته په مخکې
کړنګو نه
غرونه غرونه پراته
ماته په لار کې
له غزونه ډک
سیندونه پراته زه د څوڅکو
رڼاګانو ارمانجن مساپر
زه دتیارو او ماښمونو
لوی دښمن مساپر
ځم د اغزو پنهی

په پښو ځم
دپیدو تر کلي
په ویښو سترګو مې
په لاره داسې خوب لیدلی
چې شپه سبا شي
چنارونو باندې
لمر نه خیژي
زه د رڼا تږی
په لمر پسې ستومانه ګرځم
خو ناڅاپي مخې ته راشي دژوندون پرښته
په غوږ کې غلې راته دا وو ایي
ای لیونیه
دپښتو د اسمان لمر پریوتې
قوس /۱۳۸۳/ ۱۱

چې هم په پانه هم په ګل هم په غوټۍ وریده
دزړه په فصل مې د چا دیاد ژلۍ وریده
خورې ګل پانې خو په خاورو کې تاهم ولیدې
وایه داڅنګه داسې تیزه په سختۍ وریده
هغه پرون د سیند په مغاړه باندې څوک تېریدل؟
چې څاڅکي څاڅکي له اسمانه پرې سپوږمۍ ویده
چا غږ وله چا ویله زه پرې پوه نشومه
هغه نغمه چې په پخپله په شپیلۍ وریده
داکوم بې رحمه ښکاري داسې پرې ګزار کړې وو
دخیال په دښته مې زخمي زخمي هوسۍ وریده
دزمانې خړوبادونو ترې ښکلا وړې ړه
د خلکو زړونو باندې ځکه لیونۍ وریده
هغه شیبه چې خیال کې هرې خواته وزنګیدې
رحماني)) ستا په زړه به کومه ښاپېرۍ وریده))
۱۳۸۱/۳/۵

لکه ګودر لره چې پېغلې په مستیو راځي
هسې مې خولې ته د جانان نوم په سلګیو راځي
جانانه ستا له لیونو یادونو څه و وایم
د غرونو باد دیه د زړونو په کیږدیو راځي
تیر ماز دیګر وریادوي غلی ژړیږي ورته
کله چې پېغلی زمونږ سیند ته بې منګیو راځي
زما د کلي ښکلا ګانې یې خزان خزان کړي
کرکه خو ځکه له همه واړه پردیو راځي
((ای د باروتو په لوګیو باندې تور ((رحماني
دوير نغمې به راته څوله مرد کیو راځي
۱۳۸۲/۶/۸

دا چا ویل چې ترې بدل اخلمه
آشنا له سترګو دی غزل اخلمه
د کلي ټول ځوانان مرګي خوړلي
بلو ډیوو ته یو محفل اخلمه
داسې له خلکو چې شرمیږی ګرانې
په اجاره د رته ځنګل اخلمه
له پرهارونو سره مې لوبې کوي
په ما ته پښه د رسره چندل اخلمه
هره شیبه په خیال کې نوی هوا
د الوتلو په تکل اخلمه
رحماني ماته نغمې یادی ندي))
زه یې له ژبې د بلبل اخلمه
۱۳۸۲/۱۲/۲۳

په ورابانديږ د ښکلو لوی لښکر درسره راوړه
راځه د سپېدو ناوې خو سحر درسره راوړه
پرون دلمر په کلي خزان تېر شو درنا وو
مونږ ټول سترګې په لار یو ته یو لمر درسره راوړه
له مونږه ورکې شوې د ګودر رنګینی لارې
زارې درته کوو چې مازدیګر درسره راوړه
له زړونو مو راتراشي د خدایي میني زنګونه
راځه خو په شپېلۍ کې دی محشر درسره راوړه
ګودر له میانو پاک شو او له لا هم پکې شته دی ؟
د کلي پېغلو نجونو ته خبر درسره راوړه
۱۳۸۲/۲/۸

یو درد و دبلا غونديې پر هار کې غلې وو
که ثاڅکي د مستۍ وو په خمار کې غلی وو
یو سپین سپیڅلی رازیي وو په زړونو کې دیره
ایمان غونديې د ژبې په اقرار کې غلی وو
بیګا چې پرښتی د هسک په لاره تېریدې
شیطان هم لکه مار ورته په لار کې غلی وو
هغه شازلمي ستا دکلي ولې نه ښکاریږي
ژوندون يې چې دتورو شرنګهار کې غلی وو
ستا یاد شي ((رحماني)) چې مازدیګر درته ویل
وی دا څنګه دیدن وو چې تلوار کې غلی وو
۱۳۸۲/۱۲/۸

پښتون یم خو مغل د زمانې مې نه پرېږدي
احساس مې لیونی دی زولنی مې نه پرېږدي
د ستورو ډک اسمان بدې ګریوان لره راوړم
خو څه وکړم افسوس توری تیاری مې نه پرېږدي
اوس لاره راته ښایه تر منزله څنګه درشم
د وخت لوټماران پټ دي قافلې مې نه پرېږدي
پښتون یمه په ځان مې اوس منلی ده پښتو
له تاسره تر څنګه او نږدی مې نه پرېږدي
یو یا د دیدوی د درد په نیلۍ راشي ((رحماني)) ته
بلاغمونه راوړي څوشیبې مې نه پرېږدي
۱۳۸۲/٤/۱۹

## چیغی

پدې ګرمۍ کې
پدې سره غرمه کې
چې لمر هډوکوته
د تن کوز شوی
داسې یو څوک
راپسې چیغی وهي
ودرېږه ودرېږه
چېرې لاړې؟
خو زه د زړه ښته کې
ځینی خفه
او په ژړا روان یم
۱۳۸۱/۳/۲۰

زما زړه د شینکي توت هغه نیالګی دی
چې ختلی پرې د نیمو شپو سپوږمۍ دی
هره پاڼه کې یې روح د نغمو اوسي
ترینه لاندې د رڼو اوبو لښتی دی
دبارن په تللو څاځکو پسې ګرځم
رانه وړی یې د سروزرو غمې دی
چې ګریوان ته د بیابان سندری وایم
ستا د کلي خلک وایي لیونۍ دی
جنازې د پاکو اوښکو په آه سوزم
دهندو په څیر مې مړی سپلنیدی
چې دمینی سودا کړې د سرپه بیه
رحماني)) دهغو خلکو لاروی دی))

۱۳۸۲/۲/۲۱

چې ډنډ دوينو يې تر پولو د مرهم واوښتو
ښکاري په جام باندې د چا له لاسه جم واوښتو
ما يي چې سترګو کې د مينې کتابونه لوستل
نن يې نظر له زمانې سره همدم واوښتو
نه خو په جوړ شي نه به ژوند ته څه هوس وکړي بيا
زمونږ د زړو په ګردو کاڼو يې قدم واوښتو
وخه له شا ورپسې څاڅکي څاڅکي وينې ګوره
د درد کاروان وو له کابله په تورخم واوښتو
رحماني)) ګوره يې په خاورو کې نازک هډونه))
زما زړګی لکه افغان ماشوم په بم واوښتو
۱۳۸۲/۱۲/۲

چې تلم رڼا وه چې راتلم ماښام وو
بس لکه شمه ویلیدم ماښام وو
ښایي آشنا په ما پوه شوي نوي
پټ په زړګي کې ژړیدم ماښام وو
ستورو په ما پورې خندا کوله
ستا په کوڅه کې تیریدم ماښام وو
ومه نغمه د آدم خان د رباب
خپلې درخو ته غږیدم ماښام وو
رحماني)) تا خو هم لیدلم که نه))
چې په سکروټو تیریدم ماښام وو
۱۳۸۲/۲/۱۵

کاغذي ګلونه

مه شکه له خیاله مې
کاغذي ګلونه مه شکوه
ګوره د باران څاڅکي
یو یې په مخ لګي نه
بوی او خو شبو یې
څه پکې نشته ده
عطر مې د اوښکو پرې وهلي دي
مه شکوه له خیاله مې
کاغذي ګلونه مه شکوه
ما د درد په ګوتو سره
جوړ کړي او کرلي دي
نه پکې مالیار شته
چې اوبه یې کړي
یا ښکل یې کړي
نه هم پرې سپرلی راځي
چې وا شي ترې
ما د خیال په بڼ کې
له اغزو سره کرلي دي
مه شکوه له خیالی مې
کاغذي ګلونه مه شکوه
دلته څه نسیم نشته
چې تېر شي پرې
ګردونه دو ختونو ترینه وڅنډي
یانوی غوټۍ وسپړي
دلته مې آهونو د نسیم په څېر
دا ګلان ساتلي دي

مه شکوه له خیال مې
کاغذي ګلونه مه شکوه
رنګ هره غوټۍ
او هره پاڼه زما په وینو ده
تاو ترینه څنګوته
دوزخي اغزي
مه شکوه له خیال مې
کاغذي ګلونه مه شکوه
واوره ای خزان آشنا
خدایږو درته غذر کړم
دامې دځوانۍ دور
دامې د مستۍ دور
فصل مې دمینی لا هم شین دیه
داد خیال شینکي غنم مې وګوره
وږی ددردونویې لاخام دی هم
ستا لوګرو سترګو
د تلوار جامې
واغوستلی لاړې
اوس بې وریبي
مه شکوه له خیال مې
کاغذي ګلونه مه شکوه
شین د بنګو فصل یم
غیږه کې مې ګرځي لیونۍ سیلۍ
لامې ترانې د مینی زده ندي
ژاړم بلبلانو پسې
ښکلو شنو مرغانو پسې
ورک به له دنیا

ترخپل آرمانه شم
بیابې دې خریدار نوي
ناز بدې څوک نه اخلي
.... حسن به دی
مه شکوه له خیال مې
کاغذې ګلونه مه شکوه
۱۳۸۲/۱۰/۲۰

ليونيان يو په سندور پسې ګرځو
بازان نه يو چې کوتور پسې ګرځو
ستا د حسن د ځپاند درياب په تل کې
پخ ځو ورکو ملغلرو پسې ګرځو
تږو کيدلی يو د زړونو کربال مې
د يزيد تنبو لښکرو پسې ګرځو
چې د مينی له مانا سره آشنا وي
ددې لارې په ملګرو پسې ګرځو
چې پرون لدې وطنه سيلۍ يو ړل
نن په هاغه مساپرو پسې ګرځو
څه چې وايي هغه ووايه رقيبه
ته وا مونږ هم ستا خبرو پسې ګرځو
نور پوخ شوي للمه فصل مو د زړونو
رحماني)) ځکه لوګرو پسې ګرځو))
۱۳۸۲/۸/۹


## ستاسو همكارى !

كه غوارى چى ستاسو مقالي،شعرونه او پيغامونه په افغان ننګ ويب پاڼه كې
د پښتو ژبى مينه والوته وړاندى شي نو د بريښنا ليک له لاري يي موږ ته راواستوى
خپلى انګيرنى،وړانديزونه او نيوكى له موږ څخه مه سپموى زموږ د بريښناليک پته په لاندى ډول ده
AFGHANNANG@HOTMAIL.COM